# د سپوږمۍ خور

(ناول)

لیکوال

**خیال ستانکزی**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






# د سپوږمۍ خور (ناول)


لیکوال: **خیال ستانکزی**

(۰۷۸۸۷۵۷۹۳۲)



ډیزاین: **عبدالرحمن** «**حنیف**»

چاپ کال: **۱۳۹۷ل/ ۲۰۱۸ز**

کمپوز: **خپله لیکوال**

خپرندوی: **خپله لیکوال**

چاپ ځای: **اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

د خپلې مورکۍ بې سارې مينې او د واک نيمګړو هيلو ته يې ډالۍ کوم.

خيال ستانکزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه خیال چې موږ یې تصور هم نه کوه

په مسینجر یې راته سلام وکړ، چې ناول یې لیکلی او باید ویې ګورم او څه لیکل پرې وکړم.
ما لا نه دی لیدلی او لا یې نه پېژنم؛ خو له ادبیاتو سره شته علاقه مې مجبورروي، چې هو ورته ووایم.
د ناول له استولو وروسته مې ترې نرۍ پوښتنه وکړه، چې ملګریه !خپه مه شې، ځان راته وپېژنه.
په لنډه توګه یې ځان رامعرفي کړ، چې خیال ستانکزی نومېږي. د بغلان ولایت اوسېدونکی دی او دا یې لومړی کتاب دی.
خوشاله شوم، خپلې هیلې او ورته د رسېدو لېوالتیا مې تر سترګو شوه.
کله چې هم کوم شمالیوال ملګری راته له پښتو ژبې او پښتو ادبیاتو سره د خپل زړه بوخڅګی خلاصه کړي او هغه ټول تړاونه راته وسپړي، چې په خپله سیمه کې د خپلې ژبې د ودې او پراختیا مینه، زیار، او هڅې پکې وي؛ نو لکه تږي ته چې اوبه ورکړې.
دا نو هغه مهال وي، چې له ننه پنځلس کاله وړاندې لاړ شم او په شمال زون کې د خپلې ژبې او د دې ژبې د ادبیاتو د خوندي ساتلو لپاره د بې وسه، بې کسه او ژمنو ځوانانو عشق را په زړه شي.
نو سړی ډاډه شي، چې دا پیل شوی کاروان به روان وي او دا رواني اوبه به ضرور د مینې او خوږلنی کښتونه خړوبوي.
د خیال ستانکزي ناول -د سپوږمۍ خور هغه خیال دی، چې لږ تر لږه ما رنګو خلکو یې لسیزه وړاندې تصور نه کوه، چې کوم پښتون ځوان شمالیوال به لکه د للمې ګل د پښتو ادبیاتو د ودې پر ځمکه راشین شي او ناول به ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو اوس دغه ډول ډېر خيالونه کولی شو او هغه هم د خيال ستانکزي په څېر تکړه ځوانانو پر مټ.

د سپوږمۍ خور، د يو ځوان د زده کړو او د هغه د مينتوب داستان دی.

د داستان مرکزي کرکټر-واک، پوهنتون ته بريالی کېږي، هلته په شينکۍ نومې محصلې مينېږي او له دې سره يې ژوند له نوي پړاو سره مخ شي.

دغه پړاو له ځانه سره نوې خوږلني او دردونه لري.

د ناول ژبه ساده؛ خو ځای ځای له شاعرانه خيالونو سره رنګينه شوې ده. د مکالمو په اوډون او د صحنو په راخيستنه کې يې رياليستيک اړخونو ته پام کړی، چې په مرسته يې د کرکټرونه پېژندنه ساده شوې ده.

که څه هم د داستان ځينې خامیانې د ليکوال د لومړنۍ تجربې ګواهي ورکوي؛ خو تر څنګ يې د برياليتوب څرکونه هم لري. په کيسه کې شته تلوسه لوستونکي ته ډاډ ورکوي، چې ناول تر وروستۍ پاڼې واړوي.

د پښتو داستان کره کتونکي حق لري، چې د دې ناول مقام په کوم کتار کې راولي؛ خو په شمال کې د پښتو ادب پالنې زړونه، خيال ستانکزي ته مينه ناک سلام کوي، چې قلم يې له پورته کېدو سره بېرته نه دی غورځولی.

له خيال مو همدا هيله ده، چې له خپلې لومړنۍ تجربې ډېر څه زده کړي او دغه زده کړه، د راتلونکو ليکلو لپاره مشال وګرځوي.

خيال ستانکزي راته د ځان په پېژندنه کې د امير کروړ ادبي بهير يادونه وکړه، چې له څو کلونو يې غړی دی. دا نو د دې ځوان د ويښتانه اړخ دی، چې خپل فکر نورو ته هم رسوي.

دغه بهير له تېرو څو کلونو د پلخمري په حسين خېلو سيمه کې فعاليت کوي. تکړه ځوانان پکې راټول دي او د خپلې پښتو څراغونه يې پکې بل ساتلي دي. دغسې بهيرونو ته لا هم ډېره اړتيا ده.

په پای کې خيال ستانکزي او ټولو هغه ځوانانو ته چې په شمال زون کې د پښتو ادب د ودې او پراختيا لپاره کار کوي، د دغه ناول چاپ مبارکي وايم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس د حمزه بابا پر دعا به د خیال پر خیال دغه لیک پای کړو:

خدای دې مین ډېر کړي، چې ښېرې کوي
نـــور راتـــه هېڅ چـــل د دعـــا نه راځي

د هغې شېبې په هیله چې خیال ستانکزی صیب پکې وګورم او په خپلو لاسونو ترې د سپوږمۍ خور چاپ ناول واخلم.

درناوی
ذبیح الله احساس
د وري ۱۱مه، ۱۳۹۷لمریز
بلخ ادبي خوځښت - مزارشریف ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه د سپوږمۍ خور د ناول په پار لیکم

د ویر شر او شور شته خو د سرور شر او شور نشته
فضأ ده مړاوې مړاوې موسمونه مړاوي مړاوي

انسانان په رنګ، څېرې او خوی کې سره توپیر لري، همدا ډول د ژوند لیدلوري او موخو کې هم توپیر لري، د هرې هڅې تر شا موخه نیکمرغۍ ته رسیدل دي، نیکمرغي مختلف تعریفونه لري، نو د نیکمرغۍ یو تعریف بریا ده، خو نیکمرغي د یوسف ع حوصیله یا د سلیمان ع ښه ژوند نه ده، چې د ټولو په برخه وي، دا حتمي هم نه ده، چې هر انسان دې له خپلې هڅې وروسته ارو مرو نیکمرغه شي یا خپلې موخې ته دې ورسیږي، خو بیا هم له ماتې وروسته بریالی هغه څوک دی، چې له ژوند ناهیلی نشي د دغه ناول له لوستلو څنې د زړه د خبرو د رایستلو جرئت زده کیدلی شي، خو لوستل یې د خوښي ترڅنګ ډېر خفګان هم لري.

که د ناول یا لوی داستان تخنیکي او جوړښتي تعریفونو او شرطونو زما د فکر او قلم د تبره خولي ته لیمخي نه راوستای، نو ما به د دې ګران اثر په دومره محتاطانه پېژندګلوۍ بسنه نه وای کړې، یانې که د دې ناول د تلوسې روح ته زیان نه رسېدای، نو زه به پکې داسې د سیوري او لمر پر برید نه تېریدای.

ځکه نو له دې خوندور هنري اثر نه د خوند اخیستو ویاړ د خپلو ګرانو لوستوالو او داستاني ادب د مینه والو حق ګڼم. د دې ناول ګران لیکوال خیال ستانکزی د مننې وړ بولم او د هغه پر فکر او قلم برکت.

په پښتنه مینه
سرور ستانکزی
کالمار ښار
سویډن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خیال خوب

ژوند د هیلو ارمانونو ډک او د مینې، ورورلي، دوښمني، خپګان، خوشالیو، کامیابیو، ناکامیو هغه روان سیند دی چې کله انسان د مینې ساحل کې یوازې بې یاره پرېږدي او کله بیا هغه مستې څپې محبوب خپلې محبوبې ته رسوي.
خو کله بیا دا ژوند دومره ظالم شي چې د دیدنونو ګودرونه ویجاړ او چنارونه یې هم له ځان سره یوسي.
دلته د داسې یو چا په هکله خبرې کوم چې تل مورږ یو د بل په خندا خندلي او په ژړا مو ژړلي دي.
د ښه خوي او ښو اخلاقو خاوند، تکړه لیکوال او شاعر، هم ورور، هم ملګرى، هغه هم ښاغلی خیال ستانکزی.
ستانکزی مې د ښونځي ملګرى دى، سره له دې په یوه ټولګي کې نه وو، خو ملګرتیا مو دومره نږدې وه چې خلکو به په مورږ د ورونو ګومان کاوه.
که د خیال په اخلاقو او ملګرتیا هر څومره خبرې وکړم، بسنه نه کوي.
تر کومه ځایه چې زه خبر یم ښاغلي ستانکزي صیب په دغه ناول زیات کار کړی او د ناول کیسه یې په خپل ځاني تجربې ولاړه ده.
په ډېر ښه ډول یې پیل کړې ده او په لومړي سرکې لوستونکي په تلوسه کې اچوي.
د ستانکزي صیب دا لومړی ناول دی کېدای شي نیمګړتیاوې به پکې وي خو بیا هم د ناول په جوړښت کې چې کوم شیان اړین دي لکه کیسه، پلاټ، پېښې، منظره لیکنه، خبرې اترې، او تلوسه، دایې تر خپل وس او توانه پکې کارولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موضوع له پلوه يې روماني ناولټ بللی شو، ځکه په دې ناول کې د مينې کيسه بيانيږي.

موضوع يې څه ناڅه تکراري ده خو ستانکزي صيب د کلمو او جملو ترکيب په يو ځانګړي هنري او جادو يي الفاظو د ځنځيري کړيو په شان اوډلي.

طبيعي، ټولنيز او خيالي منظرې يې په يو خاص مهارت سره پېيلي دي، لوستونکي سم دم هغې صحنې ته له ځانه سره بيايي او د ناول پېښې يې يو بل پسې راځي.

لوستونکي چې د ناول لوستل پيل کړي، دناول د پېښو تړاو يې دې ته نه پريږدي چې د ناول لوستل بل وخت ته وځنډوي.

زه د ستانکزي صيب ليکوالي او شاعري ډېره خوښوم او تاسې درانه لوستونکي هم په خاصه مينه دا ناول ولولۍ او د خپل زړه هينداره پکې پيدا کړئ.

په پای کې په همدې دوعا خپل لاسونه لپه کوم چې د ستانکزي صيب په ليکوالۍ تل د بهار رنګينې اورېدلې اوسې، قلم يې تاند او ليکوالي يې پسرلنۍ لرې.

په درنښت

گل محمد ذره

د الفت فرهنګي مرکز مشر

بغلان حسين خيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تروږمۍ رڼا

تروږمۍ هم د الله تعالی مخلوق دی؛ هغه مخلوق، چې د ژوند چارې تولې په تپه دروي، د رب دنیا ته تور څادر اغوندي او مخلوق ته لباس جوړیږي. څوک په کې د رب فرمان څخه سرغړاوی کوي او څوک په کې د رب فرمان په ځای راوړي.

د ژوند هر گام مو یو یاد او هر یاد مو یوه خاطره ده. بیا ډېرې خاطرې د رومان په څېر وي.

د تروږمۍ راز او خوږ موجود سپوږمۍ نومیږي، کوم چې تروږمۍ ښایسته کوي او همدې تروږمۍ ته خوندور هویت وربښي؛ لکه سپوږمۍ چې ډېر میَنان لري، هر ژوندی موجود سپوږمۍ سره مینه لري، نو دا هم نادره نه ده، چې واک دې سپوږمۍ له خور سره مینه کړې وي.

هغه سپوږمۍ، چې ټوله نړۍ پرې میَنه ده او واک خپل روح د سپوږمۍ له خور سره تړلې گڼه. داستاني ادبیات ولسونو په معرفي کېدو او پېژندو کې خورا مهمه ونډه لري. د هغوی آندونه، باورنه او د علم کچه څرگندوي.

ناول، ادبي کیسې، فلمنامې او نور رنگارنگ ادبي ټوټې د پښتو ژبې د ادبیاتو یوه لویه برخه ده، چې ډېرو استادانو لکه استاد راحت زاخیلي، استاد حبیبي، استاد گل پاچا الفت او استاد عبدالکریم خورا ډېر زحمتونه په کې کړي دي، تر څو د پښتو ژبې دا طلایي زېرمې لا هم پسې غني شي.

د سپوږمۍ خور ناول د ځوان خیال ستانکزي صیب لیکلی شوی ناول، چې لومړنی ناول د هغه په ژوند کې دی، د ځینو کمیو سره_سره د یو پوره ناول په توگه هغه منلی شو؛ جوړښتي توکي یې واقعاً چې خوندور دي. خیال ستانکزي د ناول جوړښتي توکي په بشپړه توگه معرفي کړي دي. هغه یې په خورا ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهارت سره کارولي دي.

له بل اړخه خيال ستانکزی يو تکړه شاعر هم دی، په ناول کې چې کومه آزادي د شاعرانه وينا او تخيل ورکړل شوی، نو خيال ستانکزي هم پرې هېڅ سرپه نده کړې. خپل تخيل يې په پوره مانا سره کارولی ده؛ لکه چې وايي :

«يو چا د ټولګي په مرمرين زړه بخملين قدمونه کېښودل»

يا:

«شينکۍ او پاتو په دې ورځ شنې لوپټې په سر کړې وې او د پوهنتون په انګړ کې لکه د چونغر سحرانۍ کوترې الوتلې»

که ورته ښه ځير شو، نو د تخيل کمال يې ښودلی او د خيال هغه ياقوتي کرښې يې د قلم په څوکه د کاغذ پر مخ ځليږي او ناځيږي.

د واک د زړه درد په خورا لوړ مهارت سره د کتاب مخ ته ږدي، خيالات بيانوي، خيال ناځوي، خيال، خيال ځرخوي او خيالات د تخيل ژورو کندو ته بيايې؛ لکه د بې جوړې فنکار شهکار کوي.

ناول کې واکمن واک د مينې جال کې راګير دی او خپل واک يې د شينکۍ په لاجوردي سترګو کې ورک کړی دی. هغه نور واکمن واک نه دی. واک اوس بې واکه دی. بې واکه واک د ياد خبرو ته غوږ نه باسي. ژوند يې کاواک برېښي، نو ځکه خو يې د ياد، ياد له ياده وځي او صرف د بنګالي طوطيانو لاجوردي رنګ ويني هغه که د رستم تخت وي، يا زيارت د امام قطبيه يا هم د شپونکي شپېلۍ وي.

که د بغلان سيند هغه يوازې لاجوردي سترګې ويني، هغه رښتيا هم بې واکه ده، خو د لاجوردي سترګو شينکۍ د ناخبرۍ کمال کې اوسي او نا واکه واک د زړه اخري حد تنګون او چوپتيا کې لکه چې وايي:

«دا چې زما اوښکې پر مخ راغلې وې او سترګو مې هم رنګ اړولی وو. مخ ته مې څو لپې اوبه واچولې، چې څوک راباندې پوه نشي»

يوازې ياد دی، چې بې واکه واک يادونه ورته کوي، تر څو د مينې ترخه تنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاد سره په یادونو کې خړوبه کړي.

په واک خپله مینه برلاسې نشي کولای، چې نور دا هر څه په خپل زړه کې وساتي، د خپل زړه تړلې غوټه شینکۍ ته پرانیزي او شینکۍ د وخت په پلمه له واکه ځان خلاصوي. د واک او شینکۍ په ارمانونو د وزلوبې نیلې برابریږي.

بې وخته پرې غوبلې پیلوي او مینه یې نیمګړې پاتې کیږي.

د خیال ستانکزي صیب لیکل شوی ناول یو خورا اوچت ګام د پښتو ادبیاتو په غني کولو بولم او د قدوس ذات څخه ورته د لا برياو هیله مند یم.

درنښت

عبدالمبین صافی

مرکزي بغلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سينې لونګين!!!

هغه ازاد خياله، چې له تورو ډکو جوړ او د پېغلې په ټټر د يو بل زړونو ته ريباري کوي؛ ځکه خو له جوړوونکي او لرونکي نه په نورو خلکو ډېره خوشبويي لوروي. دا چې ښه کوي يا بد، په هغې نه غرېږو؛ دلته يې د مهربانۍ په سمندر لاهو خيال يادوو، چې په هر قدم کې په تورځان د نازک بدن په ښکلي ټټر ناز کوي، په دې ناز کې پرې د شوخۍ ګوزارونه کوي او د خپلې خوشبويۍ په خوږو وږمو، د نورو له زړونو غېږ چاپېروي.

له دغه ناوله هم د لونګين په څېر وږم پورته کيږي او د داسې يوې مينې خوشبويي ترې خېژي، چې سرچينه يې پوهنتون کې شين سترګې ټولګيواله ده، خو توپير يې دا دی، چې لونګين په ډکو او دا په ټکو ځان تر هدفه رسوي. دغه شيان بيا چاته ريبار او چاته د مينې په لار بيداره بلا شي، ځينو باندې کټ کې بنګړي او ځينو باندې ټټر کې زړګي مات کړي.

که مات شوي بنګړي د مينې خولې اچوي، خو مات زړونه لکه ژړېدلې شمع، د هيلو ډېرې پتنګان له ازاد خياله محرومومي او آن له ژونده يې بې برخې کوي. که زه د ځان په اړه ووايم، پر ما لا داسې څه نه دي تېر شوي او نه هم کومه ماسټري په کې لرم، خو راسره د شويو مينو تجربې لرم، چې له مخې يې يو مين يا مينه ښه درک کولای شم.

د زړګي لوبه هم عجيبه کانې کوي. د خپل مين انځور ته په کتو به ژړيږي؛ نه به مري، نه به رغيږي.

د خيال ستانکزي په ناول کې شينکۍ د خپلو شنو سترګو په ځواک، ځواکمن واک بې واکه کوي او د خپلو جذابو سترګو په زور يې ټول ځواک په خپل لاس کې اخلي. شينکۍ هم دا درک کوي، چې د واټن په نيم متر، د رڼا ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غلا يې واک پوهيږي؛ ځکه خو له زړه بې واکه واک ته، د غلا شوي زړه بدل کې د خوراکي توکو پېرلو په پلمه، د خپل بدن په لونګين او عطرين بوی لتاړې پېسې ورکوي. واک هم شينکۍ ته د سترګو په کچکول کې خپل زړګی اچوي او دغه نازنينه بيا په لړه مينه، د محبت په شرارتي لار، د هغه زړګی د خيالاتو په لوړوالي کې د مينې په کړلېچو لارو مخکې وړي. د خپل ژوند په بې ستورو اسمان يې ښکته) لَـر (د مالاکنډ تر غرونو او پورته) بَـر (د دغې قېمتي غمي پسې د ډېرې سيندونو شګې چاڼوي. له دغه ځوانه زرګر جوړوي او په خوږو الفاظو پرې د خلکو زړونه ګټي، خو پای کې دغه زرګر له کوره او کلي لرې د خپلې هغې سونې د بايلود خبر ترلاسه کوي، چې د مينې په جوارۍ کې يې د خپل بايلل شوي زړه په قيمت اخېسته.

نو د سپوږمۍ خور په دغه ناول کې شينکۍ د خپلې مينې اظهار په هغه حد کې کوي، چې ژوندانه غوټۍ يې د مرګ تېزاب ځښلي وي. خيال په دغه ناول کې د مينې سپېڅلې کليمه د الفاظو په زور يې غېږ کې نيولې او د واک دغه زرکينه مينه يې د خپل خيال په خيالاتو ډېره ښه بيان کړې.

پای کې د ګران هم مسلکی ورور، خوږ ليکوال او شاعر، خيال ستانکزي دغه هڅه پرځای بولم او د دې لومړني اثر د چاپ مبارکي ورته وايم.

واک ته هم په راتلونکي ژوند باندې د لا ځواک هيله لرم او هيله مند يم، چې واک د شينکۍ له مړينې وروسته د غښتلو خلکو په څېر د مبارزې لاره غوره او خپله مينه په خپلې مېنې شنه کړي.

درنښت

محمدخان ذهين

د خراسان پوهنتون

د ژورنالېزم پوهنځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما خبرې

هېڅوک د خپل راتلونکي ژوند په اړه نه پوهيږي، چې راتلونکی ژوند به يې څنګه تېريږي؛ خوږ به وي يا تريخ؟

خو راتلونکي ژوند ته هيله لرل د ژوند يو اصل دی .په ژوند باور او ژوند په رڼې هېندارې کې ليدل له هرڅه اړينه ده؛ لکه څنګه چې د ژوند او مينې نوم خوږ دی، بايد له خواږه هوسه ورته وکتل شي .د رب کړنې دي، څوک به : دومره ښايسته نه وي، خو د چا په زړه کې به دومره دننه شي، چې د زړه غوښې به پسې خوري او ليونی فطرت به يې خونې ورپسې ړنګوي .چاته د مينې منزل لنډيږي او خپله لپه له ياقوتو ډکوي .څوک پسې تيندکې وهي او مينه ترې لکه خپل سيوری تښتي .مينې ته نه رسېدل هم په ژوند کې لوی تجربې راوېښوي .يو څوک دومره پوخ کړي؛ لکه د نړۍ ټول کتابونه چې يې لوستي وي .دا بيا ټول د پاک رب لوروينې دي؛ ځکه انسانان د بنې له اړخه يو ډول دي، خو افکار، غوښتنې او انساني کړني يې له نورو سره توپير کوي .څوک ځينې په ځان راماتوي او څوک په خلکو کې نفرتونه زيږوي.

اړينه نه ده، چې يو څوک دې په بل چا نيت بد کړي، هغه په دې مانا، چې ولې د فلانکي ژوند ښه او يا ارامه دی؟ د ژوند امکانات ورته برابر دي او زه د ژوند ترخې لپې په سر اړوم .برخې ازلي وي، هر چاته خپله برخه رسيږي .خو ترخنګ يې زده کړې ډېرې مهمې دي .زده کړې مو له سترګو هغه تورې پردې پورته کوي، چې په ژوند کې خنډ کېدلی شي.

زه مې له خپله ژونده ډېر خوښ يم؛ هغه که په هر ډول تېر شي، خو په دې باوري يم، چې د رب لوروينې راسره دي .په معنوياتو کې يې داسې څه راکړي، چې کېدای شي له نورو سره نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ژوند و، خپلې ژبې ته به ډېر خدمت وکړم، داسې کتابونه به ولیکم، چې خپله پښتو ژبه پرې بډایه کړم .دا منم چې په لومړیو کې به ستونزې ډېرې وي، خو بیا هم د وخت په تېرېدولو سره به هرڅه سم شي.

د دغو پټ منو درنو دوستانو د احسان پوروړی یم او ورڅخه نړۍ مننه کوم؛ لکه هر یو عبدالصمد ستانکزی قومي مشر، مامورشرف الدین احمدزی، فعاله ځوان محمد عارف مطمن، محمدخان ذهین د ننګرهار ولایت په یو خصوصي پوهنتون کې د ژورنالېزم پوهنځي استاد،ګل محمد ذره بغلان کې د الفت ادبي بهیر مشر، ژورنالېست عبدالقدوس احمدزی، فعال ځوان عبدالمبین صافی، نجم الدین عمري، ژورنالیست میرویس سلام زوی،او ګران صورت جان، چې د دې کتاب د چاپ برخه کې یې په ورین تندی له ماسره نه هېرېدونکې مالي او ځاني هلې ځلې کړي دي .ټول مې په زړه کې ځای لري، او د الفت ادبي بهیر له خوږو ملګرو څخه هم نړۍ مننه کوم چې د هرې نوې لیکنې وروسته به یې زه هڅولم، دا ددې خوږو له برکته، چې ومې کولی شول، لیکنې مې تر ناوله ورسېږې.

له پاک رب څخه دوی ته د هوسا ژوند لپاره لاسونه لپه کوم.

په درنښت

خیال ستانکزی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

شپې تر ډېره وخته ويښ پاتې شوم. سترګو مې هم له ډېر انتظاره ګلابي کميس اغوستی و.
بڼو مې هم ځان پسې دکايناتو درانه ستوري تړلي وو. چې ما به د پورتنيو او لاندينيو بڼو ترمېنځ بېلتون راوسته. دوی به بيا لکه د ونو پېروتی يو له بله تاو شول.
د خوب سيلۍ مې د انتظار په دښته ګړندي آسونه ځغلول. تښتېدلې ژېړې ځېرې مې د خوب په رانه سيندسر غوټه ووهله. خوب کې مې د انتظار له امله ګډ- وډ خوبونه ليدل. مبايل مې د واسکټ په ښي جېب کې چلان پرېښی و. د موبايل د ترنګا په اورېدو مې د انتظار په خوب تللی وجود کې د ويښتيا انګېزې وغوړېدې. د واسکټ جېب ته مې لړزېدلې ګوتې ورننېردې کړې؛ ګورم چې د موبايل په ښيښه مې د ياد په نمبر، چې زما د ښونځي ټولګيوال و، سترګې ولګېدې. سمدستي مې د ځواب په تڼۍ ګوتې ته زور ورکړ. له ياد څخه هم له ډېرې خوښۍ. سلام او روغبړ هېر شو. په همدې يې پيل وکړ. چې: واکه! زېری مې درباندې! زېرې مې درباندې!
دا غږ يې څو- څو ځلې زما تر غوږو را بدرګه کړ. ما هم په درزېدلې زړه وخوړه. چې د خپلې خوښې پوهنځي ته بريالی شوی يم.
ياد له ډېرو زورولو وروسته راته د زېري منلو په بدل کې وويل: بغلان پوهنتون ژورنالېزم پوهنځي ته په لوړو نمرو بريالی شوی يې. دا زېری زما لپاره هغه زېری و. چې له خوښۍ يې زما خبرو ته د پولادو ځنځيرونه واچول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې مې هېرې شوې. وجود مې له ډېرې خوښۍ د سرو ځادر واغوست. طبیعت راته له هر لوري د مبارکۍ نارې وهلې. په شونډو مې لکه د اوبو زړوبۍ، نرۍ مسکا خوره وه. کور کې اوسېدل راته دومره ښه نه ښکارېدل. په همدې تلوسه کې وم، چې کله به د پوهنتون د دروازې په زړه د مینې ډک قدمونه ږدم. ژوند مې له طبیعته نوي-نوي رنګونه اخېستل. راتلونکې مې راته لکه د سهار ستورۍ، تک-سپین ځلېده. له هر وخته مې ژوند ته زیات هیله مند شوم. د زړونو تړون او د رب کارونو ته ګوره، یاد چې د ښونځي په ټولګي کې راته نږدې ملګرى وو، په پوهنتون کې هم راسره د څلورو کلونو لاروی شو.

د ښوونیز کال د پیل دوهمه ورځ اووه بجې وې، یاد راسره د موبایل په لیکه خبرې وکړې. چې واکه! نن به ضرور د پوهنتون لیدو ته ورځو. ماهم پرته له کوم دلیله ورسره ومنله.

زموږ له کوره تر پوهنتونه نږدې یو کیلو متر لاره وه. له کوره په وتلو مې له ځانه سره ژمنه وکړه، چې تر پوهنتونه به پلی ځم. قدمونه مې دومره ګړندي وو، چې د لارې په سینه پرتو شیانو رانه مخ اړاوو او د لارې خلاصون لپاره یې له ماسره مرسته کوله. هوس مې هم دپسرلي له عطرینو وږمو بې باکه مچکې اخېستې.

د پوهنتون اکاډمیکې لمنې ته ورنږدې شوم.

یاد هم د پوهنتون په لویدیځه دروازه کې زما په تمه ولاړ وو. له جوړ-پخیر وروسته مو دا دروازه ترشا پرېښوده او د پوهنتون په ارته سینه مو د ذرین زرک په څېر پاسته-پاسته قدمونه کېښودل.

د خپل ټولګي پیدا کولو په لټه کې شو. ټولګی مو هم د یو څو پوښتنو وروسته پیدا او وردننه شو.

ټولګی هم عجیبه ښکارېده. داچې زموږ د ټولګیوالو شمېر ډېر وو. زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولګی د غونډېو له هغه تالاره جوړ وو، چې آن پنځه سوه کسان په کې ځايېدل.

نن ورځ مو يوازې له ځينو ټولګيوالو سره پېژندګلوي وشوه، خو د درس ويلو کوم څرک ونه لرېده. د ټولګي په هره څنډه او منځ کې ټولګيوال د بنډار لپاره څلور او پنځه سره را غونډ شوي وو. زموږ د بنډار ډلګی د ټولګي دروازې ته مخامخ جوړ و.

د ټولګي ور پرانيستل شو. يو چا د ټولګي په مرمرين زړه، بخملين قدمونه کېښودل. هوډ مې وکړ، چې پورته- ورته وګورم.

سترګو مې بې واکه ښترينه زينه د هغې له قدمونو، د مخ تاج محل ته کېښوده. د نظر غشو مې د هغې واورين مخ ته خپله بې رحمه ښه برابره کړه. سترګو مې هوډ وکړ، چې په جنګ ورشي. خو د هغې د شنو سترګو نظر دومره زورور و، چې زما د سترګو نظر يې زما له څټه ووېست.

دا د هغې کتل نه وو، زما د زړه په جوړ شوي کور، د بمونو توغول وو.

په وجود مې د خوټېدلو اوبو باران پيل شو. ټولو غړو کې مې د سترګيا څپې وغورځېدې. د هغې د ښايست په رنګين بازار کې مې ځان له ځانه لکه يتيم ماشوم، ورک کړ. او زړه مې هم خپل عاطفي وجود د کبابي په سيخانو کې اوپېيه.

له ځان سره مې وويل:

واکه! دا خو به خوب نه وينم، خو نا- نا دا خوب نه وو، هرڅه ريښيا وو. د ټولګيوالو مو په بنډار کې خبرې پای ته ورسېدلې او ډله- ډله له ټولګي وتل. ياد راباندې غبږ وکړ، چې واکه نور به ځو ټول لاړل! خو زما زړه په ټولګي کې لکه د بنګال توتي بند پاتې شو.

پښو مې په تلو پيل وکړ، خو زړه مې د ټولګي تورې تختې له تورو سره پېيلی پاتې شو. نن نيمه ورځ او بشپړه شپه مې د زړه شاهين خپلې وزرې په اووم

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسمان کې پړکولې. نظر مې د هغې څېره مخ- مخ ته کوله.
وېرېدم هسې نه چې د پښو له قدمونو لاندې مې نشي. کرۍ شپه مې په ولاړو ښو او لوڅو سترګو تېره کړه. په همدې فکر کې وم، چې د دې ګلرنګې ښاپېرۍ نوم به څه وي؟ هو دومره ډاډه وم، چې د ټولګي په حاضري کې خو به خامخا ددې نوم وي. سهار په ځنګېدلي سر لکه د خوبولي ماشوم، د پوهنتون تر ټولګي لاړم.
نن ورځ د ټولګي ټولې څوکۍ په دوه برخو، چې یو اړخ د انجونو او بل ارخ دهلکانو لپاره منظمې کېښودل شوې وې او په منځ کې یوه لاره د تګ- راتګ لپاره پرېښودل شوې وه.
زما په قسمت هلکانو د اړخ درېیم قطار، انجونو خوا لومړۍ څوکۍ په برخه شوه.
هر یو ټولګیوال مو د ټولګي نالیدلې مینې ته ځان را رساوه. د ژبپوهنې ښوونکې مو هم د ټولګي تر وړو سترګو خپل قدمونه را بدرګه او ځان یې را وپېژنده. څه نا څه درس مو وویل.
هغه وخت راورسېده، چې زه لکه د مزلونو تږی لاروی ورته په وچه صحرا ناست وم. ښوونکې د حاضرۍ غوښتنه وکړه. یوه ټولګیوال مو د پوهنځي له ادارې د سترګو له رپ سره حاضري ور وسپارله. دا چې د حاضرۍ په سرکې زما نوم وو. د دې پر ځای چې ورته زه (صیب) induceوایم. له خولې مې ورته آه ووت. په کانکرېټي ټولګي کې د ټولګیوالو خنداګانو انګازې وکړې، خو ژر د ښوونکې په امر غلې شول. ښوونکې د حاضرۍ په اخېستلو پیل وکړ او هر کس د زه کلیمې یادولو تر څنګ لاسونه هم پورته کول.
زما فکر او هوَس د هغه چا مقناطیسي سترګو ته وو، کوم چا چې زما زړه د سینې له قفسه ځان پسې کش کړی وو. ښوونکې شینکۍ نوم له اخېستلو وروسته په ټولګي کې یو تک- سپین لاس زما د امید له روحه پورته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې مې رډې پاتې شوې. د شینکۍ واورین لاس په ټولګي کې سپینې شغلې خورولې.

ښوونکی له ټولګي ووت، دا چې راتلونکی ساعت خالي وو، ما د شینکۍ له شنو سترګو سره په خیالي نړۍ کې خبرې کولې. چې دا نوم به ضرور د شینکۍ کورنۍ د دې د سترګو له الهامه اخیستی وي.

د شینکۍ سترګې د دې د نامه په څېر ښکلې لکه د پنجشیر لاجورد داسې شنې وې. زما ورځې همداسې په نا مالوم مزل تېرېدلې.

یو سهار مې چې د شینکۍ د مخ په لونګین کتاب کې توري سره پېیل؛ دوه غبرګو ښوونکو مو د ټولګي په دروازه سرونه دننه کړل. په خبرو یې پیل وکړ، چې ستاسو له منځه څوک غواړي د ټولګي نماینده وټاکل شي؟ څلورو ټولګیوالو مو لاسونه پورته کړل. ټاکنې پیل او نماینده و ټاکل شو.

دا چې د شینکۍ څوکۍ زما د څوکۍ په خواکې وه، تل به همدلته کېناستلم او د شینکۍ له سپینو لاسو او سپینو نوکانو به مې طبیعت ته د الوت وزرې ورکولې. شنو خوماري سترګو یې د شینکۍ غزلیز مخ ته دوه برابره ښکلا وربښلې وه. زړه مې له ډېره درد او فکره ورځ په ورځ پړسېده. هڅه مې کوله، چې شینکۍ ته ځان ورنږدې او خبرې ورسره وکړم، خو د شینکۍ ښایست زما د خبرو کولو جرئت کم کړی و. په دې فکر کې وم چې دا ډک زړه به مې د چا په کچکول کې تش کړم؟

وخت راباندې لکه په اوږو بار وجود داسې تېرېده. داچې پوهنتون د پیل څو اونۍ تېرې شوې وې. ټولګیوالو مو یو د بل نومونه څه نا څه زده کړي وو. له خپله څَنګه غږ راباندې وشو.

واکه! سم دستي مې د زړه مړاوي تارونه په ترنګېدا راغلل. چې ورته ومې کتل، د شینکۍ له وریښمینو شونډو دا خبرې را وټوکېدلې؛ اوبښه!

زه او پاتو وږې شوې یو. تر دوکانه لاړ شه، د دې پیسو په بدل کې موږ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ، چپس او اوبه راوړه.

زما په بې روحه وجود کې دومره وسه نه وه، چې د شینکۍ تر گوتو مې خپلې لړزېدلې گوتې ورنږدې کړې وای. او د هغې له نریو سپینو قلمي گوتو مې پیسې اخېستې وای. داسې فکر مې کاوه، چې ټول ټولگیوال زموږ په ننداره دي. د وجود په مړو غړو مې د خولو قطارونو منډې وهلې. یو زړه مې خپل او بل مې په پور واخېست. شینکۍ ته مې وویل خیر پیسې پرېږدئ. زه به یې راوړم.

خو شینکۍ راسره و نه منله، پیسې یې راکړې. دوکان ته په لاره مې په پیسو کې د شینکۍ د وجود عطرینه خوشبوي لټوله.

دوکاندار ته مې له خپل جېبه پیسې ورکړې او د شینکۍ پیسې مې لکه د شهید ډالۍ په خپل جېب کې کلکې وساتلې. شینکۍ او پاتو دواړه زما په انتظار د ټولگي په دهلېز کې ولاړې وې. چې دواړه مې د سترگو د نظر لاندې راغلې. له زړه مې د سالنگ سیلۍ غېږه تاوه کړه. خوراکي توکي مې ورته وسپارل.

شینکۍ راته وویل: واکه!

په زحمت مې کړې، ښښنه غواړم.

شینکۍ د پستې ژبې تر څنگه په شنو سترگو هم خبرې کولې. خو زما بایللي زړه، د هغې د سترگو پوره ترجماني کوله.

هغې ته پاتو زیاته گرانه وه. دوی به لکه د مزار سپینې کوترې یو له بله نه بېلېدلې او د پوهنتون له پسرلني نظام څخه به یې خوندونه اخیستل.

شینکۍ به تل ناڅاپي له سپینې خولې په ما غږ کاوه، چې دوکان ته لاړ شم او دوی ته خوراکي توکي راوړم. هرځل به په ما یو قیامت تېرېده.

دا چې زما په وجود به خولې را ماتې شوې او د مخ رنگ به مې بدلون وموند. یاد ته هم شکونه پیدا شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ یاد د پوهنتون له انګړه تر کوره یو ځای راسره راغی. په خبرو کې یې راته‌ینګ کړم، چې واکه!

دروغ به راته نه وایې،ځکه چې زما او ستا ملګرتیا یو له بله نه بېلېدونکې ده. دا شینکۍ ولې هر وخت په تا غږ کوي؟ او ته په دې ورځو کې بل ډول شوی یې.

هو ریښتیا! کله چې له شینکۍ سره خبرې کوې او پیسې ترې اخلې، دا خولې ولې درباندې ر اماتې شي ها؟

ګوره واکه! په تا کې کار شته ښا!

پرېږدم دې نه! خبره راته پاکه – پاکه کوه!!!

ورته په خندا شوم. نا- نا داسې څه نشته، بس هسې کله-کله مې ګرمي وشي او خولې شم.

خو یاد زما په خبرو باور و نه کړ. فکر مې وکړ، که یو وخت یاد خبر شي او ما ورته ویلي نه وي، چې شینکۍ مې زړه د سینې له کټارو په خپل پلو کې غلا کړی دی، نو بیا به یاد سخت خپه شي.

زما لپاره همدا یو ښه مهال په لاس راغلی چې یاد ته خپل ډک زړه تش کړم.

یاده! خبره درته کوم خو چاته به یې نه وایې.

یاد هم د ښې لاس په راکولو سره ژمنه وکړه چې څوک به نه خبروي.

زما یاده یاره! له هغې ورځې چې د شینکۍ په شنو سترګو او ګلابي څېرې مې سترګې لګېدلي. زړه مې د ارامتیا احساس ندی موندلي. نړۍ راته یوازې د شینکۍ په سترګو ښکلې ښکاري او د شینکۍ ښایست له پنځلسمې سپوږمۍ سره نشم پرتله کولی. شینکۍ مې دومره ښکلې ده، چې د سپوږمۍ مشره خور راته ښکاري.

هو! دا د سپوږمۍ خور ده، د سپوږمۍ خور.

یاد راته په مسکي شونډو و خندل او ویل یې: واکه! دا ستا د مینتوب وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دی، ځان دې په خپل واک کې کړه. دا خبرې دې پرېږده. خپلو درسونو ته دې پام کوه.
له خبرو مالومېږي، چې ځان دې له ځانه ورک ده. پام کوه چې کومه ورځ دې په ټولګي کې ګرېوان ونه شکوې. او د شینکۍ د ښو خاوره ښکل نه کړې. تاخو له ځانه سم د تېرې نام عاشق جوړ کړی.
خو د یاد خبرو په ما ذره هومره تاثیر ونه کړ. د زړه وچه دښته به مې د شینکۍ په هر ځل لیدو باراني-باراني شوه. شینکۍ راته له هرڅه اړینه وه.
شل سلنه ازموینې هم رانږدې شوې وې. هر یوه ښوونکي مو د ازموینې خبرې کولې. دا ازموینه زموږ لپاره د پوهنتون لومړنۍ ازموینه وه. فکر مو کاوه چې د پوهنتون ازموینه به د ښوونځي له ازموینو سره توپیر ولري او د پوهنتون ازموینې به سختې وي.
ازموینې ښې په خوښۍ سره تېرېدلې، خو شینکۍ د بادامي شنو سترګو پوښتنې به زما د زړه په پاڼه بې ځوابه پاتې وې. هرځومره چې به مې زړه وغوښتل شینکۍ ته ورنږدې شي، خو د وجود رېږدېدلو غړو به مې له هغې څخه یو څو قدمه لرې واخېستل.
شینکۍ به چې خپل نازک پلونه د ټولګي په مرمرینې سینې کېښودل.
یاد به په سترګو کې خبرې راسره پیل کړې، چې ګواکې د سپوږمۍ خور راغله.
د یاد خبره، د سپوږمۍ خور به هم په داسې حیا کې خپله څېره ښکاره کړه، چې یوازې د مخ کاسې او د لاسونو منګولې به یې سپرغۍ شیندلې.
د لوست کتابونه مو پای ته ورسېدل. د ټولګي نماینده مو په ټولګیوالو غږ وکړ، چې را روانه اونۍ مو د دې سمستر وروستۍ ازموینې پیل کیږي. د ازموینې مهالوېش به زموږ په خوښه چوړېږي.
هر یوه ټولګیوال مو خپل نظر وړاندې کاوه. وروسته مو په دې خوښه راغله، چې د راډیو تخنیک ازموینه به په لومړي سر کې ولیکو او همداسې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترتیب مو مهالوېش جوړ کړ.
د ازموینې راتلل زما لپاره د اوږو بار نه وو، خو له شینکۍ څخه د یو څو اونیو لپاره لرې کېدل مې هېڅ زړه نه منل.
شینکۍ او پاتو به له ازموینې مخکې د زانګو له قطاره ووتلې او خپل کتاب سره به یې د سترګو له نقابه خبرې کولې.
زما بایللي زړه به شینکۍ د مخ هغه کتاب مخ ته ایښی و، چې په شنو تورو لیکل شوی وو.
ازموینې ښې تېرېدلې. خو زما لپاره څکه دومره ښې نه وې، چې فکر مې کاوه دا اته سمستره به دلته د شینکۍ په شتون کې څنګه تېروم؟
د پسرلني سمستر ازموینې مو پای ته رسیدونکې وې.
سبا مو د ازموینې وروستۍ ورځ وه. کورکې مې زړه تنګېده.
مازیګر له ملګرو سره د سیند غاړې ته لاړم. د بغلان او کندز سیند، چې د سالنګ له واورینو لمنو یې ځان راجلا کړی.
یاد سره مې د موبایل له لارې خبرې وکړې، چې دسیند غاړې ته راشه، ملګري هم راغونډ شوي دي.
یاد راته وویل: اشنا! ما پرېږده، چې کتاب لولم! سبا ته وروستۍ ازموینه ده.
ورته مې وویل: سمه ده، ورک شه مه راځه!
یاد زما د خبرو له اندازه وپوهېږه، چې واک خپه شو. موبایل مې پرته له مخه ښه پرې بند کړ.
نورو هلکانو په خپل منځ کې خوسی چې یوه سیمیزه لوبه ده پیل کړه. زه ورته د سیند په خواکې له خپل کتاب سره ناست وم.
د سیند څپو هم له رنګین طبیعت سره سندرې زمزمه کولې. په هوا کې د توتکیو سېل هم د اوبو له څپو څخه څاڅکي غلا کول. دسیند له وجود څخه مې په یوې جلا شوې برخې سترګې ولګېدلې. شینکۍ مې سترګو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېدله. په زړه مې د تورې تيارې څادر وغوړېده.

له سيند څخه جلا شوې برخه مې له شينکۍ سره تشبيهـ کړه، چې شينکۍ به هم سبا زما له وجوده داسې بېله شي. د سيند جلا شوې برخه مې په نظر و څارله. نظر مې د سيند په داسې ځای ولګېده چې د سيند جلا شوې برخه بېرته له سيند سره ورغاړې شوې وه.

ستنې مې زړه ته تکيه شوې او ډاډه شوم، چې شينکۍ به بيا يوه ورځ زما د وجود برخه شي.

ياد د موټرسايکل هارنډ له خيالي نړۍ راويښ کړم. د ياد اوږده ويښتان باد په منځ دوه ځايه بېل کړي وو.

د سلام سپېڅلې کليمه يې پرما ولوروله. په خواکې مې کېناست.

ياد راته کړه: کتاب لولې، که هسې ځان تېر باسې؟

ياد ته مې وويل: دا بې ځايه خبرې دې پرېږده. کتاب مې يوار لوستی. د سيند له ګونګو سندرو خوند واخله. دا وخت بيا نه راګرځي. د توتکيو ذوق هم له تا ښکلی دی. نه ګورې، چې د سيند په سر خواره څادر کې ځانونه رانغاړي؟

ياد مې په خوله کې خبره بنده کړه او ويې ويل: دا فلسفه يې خبرې دې پرېږده. شينکۍ دې څنګه ده؟

د شينکۍ نوم په اورېدلو مې د زړه مراندې بيا سست شول. زړه مې د معما په کوهي کې ځوړند شو.

ياد ته مې خبره په رپېدلو وچو شونډو او په اوبړنو سترګو ورغبرګه کړه. سبا هغه ورځ ده، چې زما روح زما له وجود سره مخه ښه کوي. زما بې روحه وجود به زما په بې کسه اوږو بار وي.

ياد مې زړه ته ډاډ راکاوه. ګوره واکه! ځان دې په خپل واک کې راوله. د ژوند څېره دې په هينداره کې مه ګوره. چې په يوه وړوکي کاڼي ځو ټوټې شي. په اوبو کې يې وګوره. که هرڅومره کاڼي ورګذار شي، بېرته ستا څېره جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاد به مې تل د زړه څوړند بام ته پولادي ستنې درولې.
ماښام رانږدې شو، ملګرو مې د کلي په لور حرکت وکړ.
یاد راته په خندا کې وویل: راځه چې نن دې ترکلي په جاپاني آس ورسوم.
ورو- ورو مو د کلي پر لور حرکت وکړ، خو د شینکۍ څېره مې باد لکه د پسرلي ګل سترکو- سترګو ته ښوروله.
په باد مینو شنو پاڼو هم راته شینکۍ د سترګو الهامونه ښښل.
یاد د کور دروازې ترڅنګ له موټرسایکله ښکته کړم او هغه د خپل کور پرلور حرکت وکړ.
شپه داسې راباندې تېره شوه؛ لکه چا چې له پښو او له لاسو څوړند کړی وم. سهار مې د سترګو بامونه د ټوکَول شویو زخمونو په څېر پړسېدلي وو.
پوهنتون ته لکه نابللی مېلمه لاړم. ټولګیوال مو ډله- ډله سره ولاړ ول او ازموینو د پایلو خبرې یې کولې، خو د شینکۍ کوم څرک ونه لګېده. له ټولګي بهر راووتم.
د شینکۍ په دنګه چناري ونه مې سترګې ولګېدلې، چې پاتو یې ترڅنګ روانه وه. د دواړو په لاسونو کې بسکېټ او معدني اوبه وې.
نن مې ورته ښه د زړه په سترګو وکتل او په همدې کمرو مې د زړه حافظې د شینکۍ بې شمېره انځورونه واخېستل. په زړه مې د بې هوښۍ نښې ښکارېدلې. دیوال ته مې تکیه وکړه. د شینکۍ سلام ته مې په سپېرو چاودلو شونډو علیک وویل.
وروستۍ ازموینه مو د دري د مضمون وه. ښوونکي راباندې غږ وکړ: واکه ټولګیوالو ته دې ووایه چې څوکۍ بهر را وباسي. ازموینه بهر اخلم.
ټولګي ته په څښېدلو پښو لاړم او په ټولګیوالو مې غږ وکړ: هرڅوک دې د ځان لپاره یوه- یوه څوکۍ بهر را وباسي، چې ازموینه بهر اخېستل کیږي.
یاد په ټولګي کې ناست یوه څوکۍ یې راپورته کړه. اوپه موسکو شونډو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې راته وويل: واكه! يوه څوكۍ د شينكۍ لپاره هم يوسه!
د هغه خبرو ته مې د تالو په نښتې ژبې كوم ځواب ور نه كړ. زما ټول فكر او هوس د شينكۍ شنو سترګو ته وو او ځان مې د هغې په ښايست كې د خمار په څېر بايللى و.
څوكۍ مې راپورته كړه، بهر ته مې د تلو هوډ وكړ.
ازموينه پيل شوه، شينكۍ مې يوه شېبه هم له ذهنه نه وتله. د ازموينې پاڼه نه وه، سمه هينداره وه، د شينكۍ مخ مې له ورايه په كې ليده، شنې غټې سترګې، سپين جبين او سرې شونډې راته مخې- مخې ته كېدې، د دې ټولو په لېدو زه بلې نړۍ ته تللى وم.
ښوونكي د ازموينې پاڼې ټولې كړې.
زړه مې هم لكه په دام كې نيولې مرغۍ ډوبكې كولې.
ياد چې زما په تښتېدلي رنګ سترګې ولګېدې راغى، په خوا كې مې ودرېده او يو څو د ډاډ خبرې يې راته وكړې.
شينكۍ زياته خوښه ښكارېدله. په نريو شونډو يې ورمينه مسكا خوره وه.
د ارمان ځلي يې خندا ګانې شيندلې او د طبيعت حورو د هغې ښايست ته نڅاوې كولې.
زما زړه به هره دقيقه د پامير ډنډ په څېر را ډک شو او سترګو به مې له هغه ډنډه لپه راډكه كړه.
شينكۍ او پاتو له خپلو خورلڼو سره مخه ښه كوله.
د طبيعت بوټو زما له زړه سره ګونګې ژړاوې كولې، اوښكو مې له بڼو ځان رابېل كړ. د ګرېوان په دښته يې لامبو پيل كړه.
شينكۍ د تلو تكل وكړ. لمر مې يوه نېزه پاس په سر ودرېده. د سرپه لپه كې مې ماغزه په خوټېدا راغلل، له ځانه بېزاره شوم.
د شينكۍ قدمونه مې څارل. هغه لكه زما د وجود روح زما له وجوده پناه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه. د ناهیلۍ څپېږو په مخ ګذارونه راکول. د پوهنتون ماحول راته په وجود خولې لګولې.
دا مې غوره وبلله چې د کور په لور حرکت وکړم.
نړۍ راباندې تنګېدله. وخت سره په جنګ وم. د وخت ګریوان مې شکاوه؛ ځکه چې وخت مې شینکۍ رانه بېله کړې وه. ترکوره په نمجنو سترګو راغلم. هېڅ څه مې په سترګو ښه نه برېښېدل. څېرې مې خپل اصلیت له لاسه ورکړی و. په سترغلو مې اوښکو لارې جوړې کړې وې.
په ټنکنده غرمه خوب راباندې غلبه وکړه. ځان مې د کوټې په یوه کونج کې وغورځوه. او په یوه ناپېژنده خوب مې ځان ورک کړ.
د چڼچڼو په ماښامي سندرو له بې وخته خوبه راویښ شوم. د درېدلو توان مې وجود بایللی وو. دردونو مې بدن کې لارې وېستلې. تر نامالومه وخته ویښ پاتې شوم. بیا په ځان نه وم پوهـ شوی، چې سهار شوی و.
د مېلمستون دروازه وټکېدله. د یاد غږ مې تر غوږ شو.
ورته مې وویل:راځه دننه یوازې یم!
یاد هم راغی او د بالښت په خوا کې مې ودرېده. کمپله یې راڅخه لرې کړه او زما په ځورولو یې پیل وکړ. سم یې لکه د شاربلو غړکه سره وښورولم.
وجود مې هغه پخوانی زور او شور له لاسه ورکړی وو. یاد راته وویل: واکه! نن کېله ګي ته د یوه ملګري کره خټکیو خوړلو لپاره ځو.
دا چې زما زړه لکه د کندهار آنار په چاود راغلی و. غوره مې وبلله چې لږ مې زړه ته ارامتیا ور وبښم.
زه، یاد او نجیب چې ټولګیوال وو، د نجیب په فولډر موټر کې مو د کېله ګي پرلور حرکت وکړ. په ټوله لاره نه وم پوهـ شوی. د شینکۍ جادوګرې سترګې مې سترګو- سترګو ته کیدلې. ساړه –ساړه اسوېلي مې له خولې وتل.
د کیله ګي ملګري مو هم زموږ د ښه راغلاست لپاره مخې ته په یوه موټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې راوتلي وو. له جوړ پخير وروسته، هغوی د مېلمستون پر لور بوتلو.
شين مغزي ختکي چې د بغلان ډېر خواږه ختکي دي، هغه يې راوړل، خو زما د ختکي يو قاش هم له ستوني نه تېرېده. وسوسو راته پېغور راکاوه، چې شينکۍ دې څه کړه؟ شينکۍ دې لکه چې هېره کړه.
شاته په بالښت مې تکيه وکړه. په مخ مې د خولو قطارونه رامات شول.
ياد مې د وجود په هر درد پوهېده.
د ډوډۍ له خوړلو وروسته مو سيند غاړې ته د تلو تکل وکړ. کوم ځای کې چې د ختکيو بوټي و.
موسم ډېر ښکلی و. کليوالو ماشومانو د شولو له وږو مرغۍ شړلې او ځای-ځای يې ځانونو لپاره د څانگو جونگړې جوړې کړې وې. له سينده دېخوا او هغې خوا ځمکو له ځانه د شولو د وږو ژېړ څادر تاو کړی و.
يو څه مزل وروسته د ختکيو پټيو ته ورسېدلو. په بوټو کې له لوټو ختکي زيات وو. هر يوه، يو- يو ختکی له بوټو رابېل کړ او د سيند غاړې اوبو کې يې غوټه کاوه.
ياد چې خپل ختکی خوړ، په پوټکي به يې زه ويشتلم.
ياد ته مې مخکې له مخکې ويلي و، چې ملگرو ته به زما په اړه څه نه وايي. که چېرته هغوی زما په خپگان پوه شول، نو بيا ښه خبره نه ده.
خو ياد همداسې په ارامه نه پرېښودم. کله –کله به يې يوه گونگوسه زما تر غوږو را ورسوله.
لمر هم د غره په اوږو ځان باراوو. د اوبو په څپو يې رنگينه منظره جوړه کړې وه. د سيند په نرۍ لاکتي غاړه، طبيعي شنو مونجانو او لوخو له خپله سره بډگال هوا ته ډالۍ کول.
ياد ته مې وويل: يارو!
نور به ځو لخيره، چې ايله تر ماښامه کور ته ورسېږو. لاره هم لږه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورو-ورو مو د کمره سر ته ځان ورساوه. کلي ته ورسېدو. کېله گي ملگرو نن شپه زموږ د ایسارېدلو زیاته هڅه وکړه. دا چې وخت لږ او مزل ډېر و، هغوی سره مو مخه ښه وکړه.
ماښام تېر کورته ورسېدو. یاد او نورو ملگرو ته مې وویل: راځئ نن شپه له ماسره ایسار شئ! زما په خبرو یې غوږ ونه گراوه. او یوازې یې د خپل مېلمستون مخې ته ښکته کړم او هغوی په خپله مخه لاړل.
تیاره هم ورو- ورو د ستورو له رڼا سره همغاړې کېدله.
د شینکۍ تېرو خبرو خوب ته نه پرېښودلم. د خوب کوترې مې له سره په الوتو وې. بهر را ووتلم. سپوږمۍ هم په څوارلسمه شپه، د آسمان په منارو کې مېلمه وه. کاینات غلي و. چوپه- چوپتیا خوره وه. یوازې د دېوالو په درزونو کې کرېیو زمزلې کولې.
سپوږمۍ سره په خبرو لگیا وم. د سپومۍ په گونگو خبرو ښه پوهېدم. سپوږمۍ شینکۍ راته په خپل پلو کې ښودله. دواړه لاسونه مې له زنې لاندې ایښي وو. نن شپه یوازې سپوږمۍ راسره پاتې وه. او زما درد یې له ما سره نېم کړی و.
سبا د یاد خواته ورغلم، یاد هم د ذردالو په باغ کې ځای خور کړی و. د کمپیوټر په کول اپډېټ پروگرام کې وخت تېراوه. دا پروگرام مې پرې بند کړ. ورته مې وویل: داکار پرېږده، مرکه وکړه، چې زړه مې وچاودېده.
یاد چې زما په ناهیلې څېرې سترگې ولگېدلې. سخت راته په غوسه شو. ویې رټلم.
راته یې وویل: دا په تا څه شوي؟ دا له ځانه دې څه مجنون جوړ کړی دی. هر سړی زړه بایلي، خو ستا پشان لېونی ما نه دی لیدلی!
یاد ته مې هېڅ ځواب نه درلوده. د شهادت گوتې په نوک مې ځمکه گروله. یاد ښه رانږدې شو، یو لاس یې زما له غاړې راتاو کړ او بل یې راته په ورانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېښود. راته يې وويل: گوره واکه! دومره ځان مه ناهيلی کوه، خدای مهربانه دی. لا خو وخت ډېر دی. لا خو ستا د مينتابه لومړۍ ورځې دي، هرڅه به سم شي، زړه مه خوره. پوهيږم چې شينکۍ دې له زړه نه وځي، خو زړه دې لږ ډاډه کړه.

پوهنتون به پيل شي او شينکۍ به دې هم ووينې. راته يې په نيولي ستوني وويل: واکه! که په تا څه وشو، هېڅ کله به دې ونه بښم!!!

څه موده غلي لکه مرور ماشومان سره ناست وو. ياد کمپيوټر ته لاس ور اوږد کړ. د سميرهمراز هغه سندره يې خپره کړه چې وايي:

اوښکې مې تاپسې بهيږي، ته به کله راځې؟

ستا ښکلې سترگې مې يادېږي، ته به کله راځې؟

له سترگو مې سپينې ملغلرې د کميس لمنې ته وبهېدلې. د ټينگې نه وم. ځان سره مې وويل. دا ياد مې دلته هسې په زخمونو مالگې دوړوي. همداسې پرته له خبرو. د ياد له خوا پورته شوم.

ياد کلک ونيولم. او بېرته يې په بخملي توشکه کېنولم. کمپيوټر يې بند کړ. دلته مې په ياد خوله راپرېښوده. پرېمېږه چې لاړ شم. دا ستا هر څه ما سره تمثيل دی. هم راته وايې چې زړه دې ډاډه کړه او له بل لورې دا سندرې راباندې اوروې. دادې څه پيل کړي ايا په ما ملنډې وهې؟

ياد له لاسه ونيولم. له خپل ځايه يې پورته کړم. غېږه يې رانه تاوه کړه. سخت يې ټينگ ونيولم. راته يې وويل: له ما غوسه يې؟ لږ صبر چې پخلا دې کړم. ترډې اندازې يې ټينگ کړم چې پوښتۍ مې نږدې يوه له بله تېره شي.

آخر ورته قانع شوم، چې نه يم خپه پرېمېږده. درېيم شرط يې هم راباندې پوره کړ. بيا يې توشکې ته پرېښودم چې کېنم.

وروسته مې موبايل له جيبه راووېست. خپلې فېسبوک پاڼې ته مې سر ور دننه کړ. فېسبوک زما لپاره د ساعت تېرولو يوه ښه وسيله وه. ماسپښين هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



رالنډ و. په یوه بهانه مې له یاده ځان خلاص او د کور په لور لاړم. د مېلمستون شمال خوا کړکۍ ته مخامخ کېناستلم. له مېلمستون شا او خوا ونو کې مرغیو اتڼونه اچولي وو او سندرې یې سره ویلې. د ګرمۍ هم پوره جم او جوش و.

د شینکۍ یاد مې بیا لکه د درد څړیکه په وجود کې تېره شوه. فکر مې کاوه چې شینکۍ به په کوم خیال کې وي؟ څه به کوي؟

شینکۍ راته یوازې دردونه پرېښي و. نور یې داسې څه نه و پرېښي، چې زما زړه به پرې سکون موندلی وي.

مازیګری به کله نا کله د پټیو خواته لاړم. د پټیو په پولو شنو طبیعي بوټو او ګلانو به یو عاشقانه ماحول جوړ کړی و. نري باد به ورته د ناز په شپېلۍ کوتې ایښې وې. طبیعت زما د زړه له رازه خبر وو.

هر څه یې زما په خوښه برابرول. بیاهم داسې څه مې په لاس کې نه وو، چې زما دې وخت ورسره ښه تېر شوی وی.

د ګوګل له نړۍ مې یو څو د شنو سترګو انځورونه راښکته کړل. خو شینکۍ د سترګو ښایست. مینه او دبدبه مې په کې نشوه موندلی.

ځان به مې هسې د ماشوم په څېر څوراوه.

د رخصتي هم نږدې وخت پوره و.

فېسبوک پاڼه کې لګیا وم. پوهنځي د رییس په یوې خپره کړې خبر پاڼې مې سترګې ولګېدلې. چې لیکلي یې وو. ژورنالېزم پوهنځي ټولو زدکړیالانو ته خبر ورکول کیږي چې:

راروانه اونۍ د مني سمستر درسونه پیلېدونکي دي....

....

په شونډو مې پسرلنی موسکا وغوړېده. د خوښۍ غوټۍ مې په سپړېدا راغلې. دهوس نظام مې د شینکۍ غوښتنه کوله. دوه ورځې مې د انتظار په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پله تګ- راتګ وکړ. ترېدلی خوب مې شپني قانون سره نه همغاړی کېده. شپې خوب مې د خوښۍ له کوره ورځار کړ. شینکۍ د ښایست سپاره مې مخ ته ایښې وه او قصیدې مې پرې پخولې. د سهار رڼا را ځخه د تروږمۍ په شپه کې ورکه وه.

شپه ډېره اوږده شوه. زما د ارمانونو حوصلو هم خپل مزي رالنډول.

سبا شو. سهار له کوره ووتلم. یاد هم زما خواته را روان وو. چې سترګې یې راباندې ولګیدلې. راته یې وویل: نن څنګه خوښ ښکارې د غم ګوډیه؟ دومره وخت خو به دې سم مرچ بار کړي وو.

یاد ته مې خبره په لنډو کې ورماته کړه. خبره یې که هسې دې ځان په ټګۍ او برګۍ وهلی.

له خبرو ښکارېده چې یاد د پوهنتون له پیلېدو نه و خبر. پوهنتون د پیلېدو زېری هم ما پرې وکړ. له لاسه مې ونیو. او مېلمستون ته مې راوسته. سهارنۍ کې مې د شیدو چای او غوړې ډوډۍ پرې وخوړې.

یاد راته په کړس خندا کې وویل: نن به دې زه هم په دې خوښۍ کې په شنه جاپاني آس تر پوهنتونه ورسوم.

د دواړو خنداوو زور واخېست.

یاد مې رخصت کړ، چې د پوهنتون جامې واچوي او شین موټرسایکل راولي او ما هم د کور په وره قدم وواهه.

یاد موټرسایکل راوست. خپل د کتابونو بیک یې راته وسپاره.بې صبرو هیلو مې له ما د مخه د شینکۍ قدمونو ته په سپین سهار رنګین دسمال خور کړی و.

دواړه د پوهنتون دروازې مخې ته ترې ښکته شو.

د پوهنتون قدر زما لپاره دومره ډېر شوی وو؛ لکه د کلونو مسافر چې خپل هېواد ته راستون شي او د خپل هېواد خاورې ښکل کړي.

د زړه بندو پنجرو مې د خوښۍ بندې کوترې الوزولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هرڅه مخکې خپل ټولګي ته لاړم. ټولګی هم د ټاکل شوو کسانو لخوا پاک جارو شوی وو. ټولګی تش وو. د شینکۍ څوکۍ ته مې ځان ورورساوه. په ګردونو پوښول شوې وه. له جیبه مې دسمال راوویست او څوکۍ مې پرې پاکه کړه.

زړه مې بې واکه ټوپونه وهل. فکر مې کاوه چې په سینه کې مې دوه زړونه د جنګ ډګر ته دانګلي. د امېد ښاپېرۍ مې په اوږو سپرې وې. او هر لوري ته یې الوزولم. قدمونه مې په ځمکه نه لګېدل. الوت زړه مې په پورې دنګ، چونغر غره کې ملاقونه وهل.

یاد مې د سر له سترګو پنا شوی و. د پوهنځي په دهلېز کې مې وموند. له لاسه مې کش کړ او د بلاک درېیم پوړ ته مې پورته کړ. لاندې ډنډ شهاب الدین، ډنډغوري او سرخ کوتل سیمو خوندور مناظر جوړ کړي وو. په منځ کې بهېدونکي سیند داسې الهامونه ښندل؛ لکه چا چې په لپه لاسونو کې د خیر اوبه نیولې وي.

کرکر او چونغر غرورنو هم د لمر شغله ایز امېل خپلو غاړو ته اچولی و. د ژمي پاتې واورې لا هم د چونغر په اوربل نرې باد نڅولې.

هو! پېستې ونو د چونغر مخ ته بلا ښکلا وربښلې وه؛ لکه د ناوې په مخ کې چې د رانجو خالونه کېږدې.

دا هرڅه راته ښکلي ښکاره کېدل. او زه هم په طبیعت کې هغه څه پسې ګرځېدلم، کوم څه چې ماته په زړه پورې و.

د هرڅه په ښکلا کې مې د شینکۍ ښکلا لټوله. نړۍ د ښایست بازار ګرم وو. د زړه هواسو مې بې پوښتنو پکې سودا کوله.

یاد راته وویل: واکه! نور به ښکته شو. تر ټولګي به لاړشو، وبه ګورو، چې ټولګیوال مو راغلي او که نا؟

له درېیم پوړ څخه یو په بل پسې راښکته شو. په ټولګي کې یوازې د ګوتو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر ټولګیوال لیدل کېدل. د شینکۍ څوکۍ شهزادګۍ د څوکۍ په څېر لا تشه وه. په ټولګي کې مې سترګې واچولې، نه د شینکۍ درک و او نه د پاتو.

یاد ته مې وویل: یاره! د شینکۍ خو تر اوسه کوم څرک ندی لرېدلی. چې دا ولې؟ نن خو زما د انتظار له امله زما د سترګو ګاټې ورپسې ولوېدل.

یاد راته د خبرو په ځواب کې وویل: وخت هم ډېر تېر شو. فکر نه کوم، چې وروسته له دې دې راشي.

د یاد خبرې مې زړه ته نه لوېدلې. د زړه ماشومو هواسو مې د شینکۍ غوښتنه کوله.

شینکۍ رانغله، نن مې د شینکۍ په زړو رانجو سترګې تورې کړې.

پوهنتون په انګړ کې خلاص دوکان خوا راغلو، معدني اوبه مو واخېستې. لږ مو خپل وچ ستوني پرې خړوب کړل.

د کلي پر لور راغلو. نن مې د مجاز په کټو کې مستې او شیدې ګډې- وډې شوې وې. زیاتې خبرې مې نه کولې. سندربول توتي مې د مستۍ ژبه نه ښوروله.

یاد ته مې وویل: نن مازیګر سیند غاړې ته ځو. بیا وروسته بهانې- مهانې ونه کړې.

هغه راسره ومنله. له کوره مې شپېلۍ راواخېسته او لوړ مازیګر د سیندغاړې پرلور لاړو. سیند په غاړه شنه چمن کې مې د غاړې لوی دسمال خور کړ. دواړه همدلته کېناستلو.

زما له ډېره وخته شپېلۍ یاده وه. دا موسم، دا ماحول او دا شپېلۍ، هرڅه جانانه ښکاره کېدل.

شپږ کوتې مې د شپېلۍ پر ملا ورماتې کړې. او د ګونګ زړه آهونه مې د شپېلۍ له مشقي ژبې وېستل. د سرور په سکروټو مې د شپېلۍ سازونه ګرمول. د سیند مستو څپو، د شپېلۍ دا زمزمې، د آمو تر پېڅکو رسولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاس د هوا په لمنه کې هم باښو د اتڼ امېل جوړ کړی و. نري باد، د چمن شنېلي هم په نڅاو راوستي و. د ذوق زرکانو مې بې درېغه نارې وهلې. د شپېلۍ ژبه په ګونګيدو شوه. خو زما ګونګ زړه لا تش شوی نه وو. شپېلۍ د راګونو مزي مې راخپل کړل. سا مې هم سوزېدونکي غوندې ښکارېدله. شپېلۍ مې له شونډو لرې کړه. او د ياد غېږ ته مې ورګذاره کړه. په غوږو کې مې لا هماغسې د شپېلۍ سندرې غږېدلې.

ياد دواړه لاسونه شاته لړولي او پښې غزولې ناست و.

د کب نيونکو يوه ډله مو تر څنګ تېرېدونکې وه. کبان يې په لښتو کې لکه د امېل پشان پېيلي و.

ياد ورته وويل: داکبان خرڅوئ؟

يوه کب نيونکي ورته ځواب ورکړ.

هو!څومره مو پکار دي.

ياد يوه کيلو کبان ترې واخېستل. همدلته مو د اوبو غاړې ته پاک پرېمينځل او زموږ د مېلمستون پرلور لاړو.

دا چې زموږ د کور غړي، دخپلوانو کره په مېلمستيا تللي وو.

د ګازو ډبه او نور د پخلنځي توکي مې راوړل او کبان مو پاخه کړل.

ياد نن شپه همدلته را سره پاتې شو. دوه په دوه مو مېله ګرمه کړه.

سهار شو، ياد ته مې وويل:

نور ځو، نن چې د شينکۍ ملالې سترګې ونه وينم، ترک به بېل شم.

د پوهنتون پر لور لاړو.

ټولګي ته پدې تمه لاړم چې شينکۍ به راغلي وي. لا د شينکۍ بښه نه وه. څوکۍ کې کېناستلم. زياته ستړيا مې احساس کوله.

ياد د ټولګي په تخته د شهنواز باقر د غزل کوم بيت ليکه.

زما د زړه سترګې د ټولګي دروازې ته پاتې وې، چې کله به شينکۍ په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راښکاره شي.

د انتظار خيالونو مې دېر لرې بېولی وم. د شينکۍ راتګ ته مې لارې په ګلانو پوښلې وې.

شينکۍ د وريښمينو شونډو سلام مې ترغوږو راغی. د سر ويښتان مې بې واکه نېغ ودريدل. شينکۍ راغله په پخوانۍ څوکۍ کې کېناستله.

شينکۍ تورې جامې اچولې وې.

زما لپاره ښه موقع وه، چې د شينکۍ په شنو-شنو سترګو کې ځان ورک کړم.

د شينکۍ نفس عطرونه شيندل. ګلابي شونډو يې په تتر پسرلنۍ ذرغونه جوړه کړې وه.

شينکۍ لکه د سيوري ګلاب داسې تنکۍ ښکاريدله.

سپين لاسونه يې د څوکۍ په تخته ايښي وو.

وړې سترګې مې د شينکۍ په ليدو نه مړېدلې. سپينو مرمري لاسونو کې يې سرو وينو آسونه ځغلول.

شينکۍ له پخوا ډېره ښکلې شوې وه. په زړه مې د بې صبرۍ پېريان ناست و. په دې فکر کې وم، چې په کومه بهانه له شينکۍ سره خبرې پيل کړم؟

سم له واره شينکۍ خبرې راسره پيل کړې.

پوښتنه يې وکړه: چې واکه!رختصي دې پخير تېره کړه؟

وجود مې مېږي- مېږي شو.

هو پخير تېره شوه.

له ځان سره مې وويل: چېرته پخير تېره شوه. شپې مې ستوري او ورځې مې خپلې ګوتې شمېرلې. د ظالم لورې په ما خو دې لويه نړې دوه قدمه کړې.

د پاتو مې ترې وپوښتل چې هغه چېرته ده؟ ولې پوهنتون ته نه راځي؟

شينيکۍ راته وويل: پاتو به لا خبره نه وي، چې د پوهنتون درسونه پيل شوي. کنه هغه خو له ما او تا زياته لېواله ده. بل دا چې مور او پلار يې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسونو ته زيات هڅوي؛ ځکه د مور او پلار يوه لور ده.

د شينکۍ ننۍ خبرې مې زياتې په زړه خوږې لږېدلې. زړه مې غوښتل، چې تل مې د شينکۍ وزمينې خبرې اورېدلی.

ياد هم د تختې پر سر ځان تېر باسه، خو زموږ هره خبره يې څارله.

شينکۍ ښکلې څېرې درلودلو تر څنګ زياته هوښياره هم وه. زياتې خبرې يې له چاسره نه کولې. او خپل پښتون غرور به يې تل په خپل پلو کې نيولی وو.

د پښتو مضمون ښوونکی مو ټولګي ته راغی او درس يې پيل کړ.

د درس په منځ کې يې له ما پوښتنه وکړه، چې هغه شاعر واک ته يې؟

د پوښتنې په ځواب کې مې ورته وويل: هو! هغه زه يم.

شينکۍ له شنو سترګو په دوه بنګالي توتيانو وويشتلم او د شنو سترګو سيوری يې زما په خاورينه څېره وغوړاوه.

له درس وروسته شينکۍ لېندۍ سترګي زما په لور کږې کړې.

واکه! ريښتيا؟ شاعري هم کوې؟

شينکۍ ته مې کړه: هو لږ-لږ، خو ځان ته شاعر نه وايم. بس کله-کله د زړه پټې خبرې د قلم په ژبه بيانوم.

شينکۍ داسې پرې نښودم. راته يې وويل: د زړه پټې خبرې دې څنګه د قلم په ژبه بيان کړي؟

کولی شې ماته يې لږ ووايې!

د شينکۍ دې غوښتنې ته ګونګ پاتې شوم. په خوله کې مې ژبه وچه شوه.

ځان سره مې وويل: واکه په ګلونو ګډ شوې، خو ځان مې ډاډه کړ.

شينکۍ ته مې وويل:ته صبر چې په بکس کې مې يوه کتابچه ده، هلته مې ليکلي.

کتابچه مې راواخيسته او هغه ګوډې- ماتې کرښې مې د شينکۍ مخ ته کېښودې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شینکۍ د خپلو شنو سترګو باران د کتابچې په سپېرې دښتې ووروو.

زه داسې یو انسان یم

چې زړه مې ژر وبایلود

په هر چانه

خو ستا په یو وار لیدو

ذرې ذرې شومه

او مړ شومه

ای!

ستا یوه مسکا مې ژوند بدلوي

بنګ راکوي

نور هېڅ نه وینمه

تا وینمه

له رڼا ګانو رڼه

قد او قامت دې ښکلی

زړه مې په لاس کې مه وړه

ګوره بې زړه به شمه

سکون د ژوند مې ته یې

ارام د زړه مې ته یې

ته یې بس ته یې

ته یې

ته یې

ته یې

...........

ځان مې له ځانه پردی و. فکر مې کاوه چې شینکۍ به د دې کربنو له لوستلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته څه فکر کوي؟
ابلیس سل فکرونه مخ ته راته کېښودل.
شینکۍ دوه بادامي سترګې دکتابچې په لیکلې کرښو کې خښې کړې وې. زیات وخت یې پرې تېر کړ. کتابچه یې بېرته راته وسپارله.
شینکۍ راته وویل: شعرونه دې ډېر ښکلي دي. زما شعرونه خوښېږي، خو لیکلی یې نشم. شینکۍ سره په خبرو مې زړه من- من غوښې اخېستلې.
هر یوه ښوونکي چې به درس راکاوه شینکۍ به د چپتر درلودلو ترځنګ د خولې لکچر هم لیکه. خط یې د دې د سترګو په څېر ښکلی و.
خو زما خط هم د شینکۍ له خطه کم نه و. د خط لیکلو سبک مو یو و. زما او د شینکۍ خط کټمټ یوشان و، په آسانۍ سره یې توپیر نشو کېدلی.
یوه ورځ ارتباطاتو د مضمون ښوونکی راغی او غږ یې وکړ: زما له درس څخه راضي یاست او که نه؟ په لیکلي بڼه یې راته ولیکئ!
هر یو ټولګیوال مو ورته د زړه خبرې ولیکلې.
سبا بیا ښوونکی ټولګي ته راغی او ویې ویل:یو ډول خط و، چې له ما ډېر په کې سرټکول شوی و. خط ښکلی وو. په تخته یې زموږ د سبک په ډول څو کلیمې ولیکلې.
شینکۍ ماته او ما شینکۍ ته وکتل؛ پوه شو، چې زموږ دواړو له منځه د یوه کس خط ده.
اوس شینکۍ سره په خبرو کې بلد شوی وم. یاد به راته هروخت تېرې خبرې یادولې، چې شینکۍ سره به مې کولې او رنګ به مې پیکه شو. خو اوس د شینکۍ پر وړاندې مې جرئت زیات شوی و. زموږ ترمنځ به هره ورځ خبرې له خنداوو سره وې. د صمیمیت یوه حد ته رسېدلي وو.
د مني موسم په پیلېدو وو. په ونو کې ځای- ځای پاڼې ژېړې شوې وې. په نري باد به نارنجي پاڼو له ونو سره مخه ښه کوله. هغه څانګې چې له غروره

(c) ketabton.com: The Digital Library



به يې سيورى په يوه ځاى نه درېده. اوس لغړې شوې. د خزان سپېره بادونه پرې راغلل. موسم به ورځ تربلې خرابېده. هغه هوا چې له ځان سره به يې د لونگو بوى راوړ، پاتې نشوه. شنه چمنونه بې رنگه شول.

د شل سلنې ازموينې وخت هم ډېر تېر شوى و. زړه مې زيات وېرېده او کله کله خو به يې درزا ورکه شوه چې را روانه رخصتي به را په ياد شوه.

دانو نه زما د زړه خبره وه او نه د بل چا. لدې ترخې پېښې سره مې مخ کېدل لازمي وو. له هروخته اوس له شينکۍ لرې کېدل راته گران وو ځکه له پخوانه اوس راته هغه زيات نږدې شوې وه.

ياد ته مې وويل: داځل شينکۍ پسې مرم. په وروستۍ ورځ تابوت درسره راوړه. ياد راته په ټوکو کې وويل. تابوت به درته په جاپاني آس راوړم، غم به نه کوې. هوا سړه شوه. پرته له ځادر او کرتۍ پوهنتون ته راتلل ستونزمن شو.

نري باد له لگېدو سره به هم د هرچا ساړه کېدل.

شينکۍ او پاتو به چې سره يو ځاى شوې. زياته شوخي به يې کوله. شينکۍ چيناري ونه او گل ځواني. ټولگي کې چې به ښوونکى نه وو. په سړه هوا کې به يې د ټولگي پکي چلان کړل. او بهر به ووتلې.

په دې ورځو کې مې شينکۍ زياته زړه ته ننوتې وه.

مسافر ټولگيوالو مو هر وخت د ازموينې خبرې کولې. چې کله به ازموينې پيل شي. ويل به يې هسې نه چې واوره ووريږي.

سبا مو د ازموينې لومړۍ ورځ وه. هرچا خپل چپترونه په لاسونو کې نيولي وو او درسونه يې ويل. د شينکۍ هره خبره مې په زړه داغ پاتې شوه. مينه ناکې خبرې او د هغې خوماري کتل. يوازې يوه ورځې پاتې وه، چې د شينکۍ شنو سترگو او گلرنگې څېرې ته په مړو سترگو وگورم او ښه ديدن يې وکړم.

شينکۍ د تېر سمستر په څېر نه وه. د هغې خبرې او کړنې راسره زياتې ښې شوې وې. له هغې جدا کېدل له ستوني د زهرو غړپ تېرول و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وخت له شینکۍ جدا کېدل زما لپاره څکه ګران و، چې درې میاشتې مو یو بل نه سره لېدل.

په وروستۍ ورځ چې به مې شینکۍ ته وکتل. زړه به مې له ژړا راډک شو.

شینکۍ او پاتو په دې ورځ شنې لوپټې په سرکړې وې او د پوهنتون په انګړ کې لکه د چونغر سحرانۍ کوترې الوتلې. خو زما په نري زړه یې د ژړاګانو باران پیل کړی و.

شینکۍ چیناري ونه درلوده او ورسره چې به یې لوړې څپلۍ په پښو کړې. دومره به راته زړه ته ننوته. چې ځان به مې په خپل ځان بخیلي کوله.

د پوهنځي مخې ته مو ټول ټولګیوال راغونډ شوي و او یو له بله د مخه ښه غېږې اخېستلې، خو زما سترګې او زړه له ژړا نه تشېده.

یوه ځای ته لاړم. ټولګیوال مې له نظر لاندې و، خو هغوی زه نه لېدلم.

شینکۍ ژېړخاوري رنګی دسکول غاړې ته اچولی و او پاتو یې له دواړو لاسو نیولې وه. دواړو خبرې کولې. شینکۍ به ورته له خندا په ملا ماته شوه او په ګلابي شونډو به یې لاس کېښود.

زما د زړه له رازه پرته له یاد نور هېڅوک خبر نه وو. د شینکۍ هر بېلتانه په اور داغلم. له زړه به مې لکه سوزېدونکی ربړ، تورې لوخړې پورته کېدلې.

موبایل مې په جېب کې وترنګېده. یاد راسره خبرې وکړې. ویل یې چې چېرته یې؟ د پوهنځي مخې ته راشه!

داچې زما اوښکې پرمخ راغلې وې او سترګو مې هم رنګ اړولی وو، مخ ته مې څو لپې اوبه واچولې، چې څوک راباندې پوهـ نشي.

د پوهنځي مخ ته راغلم.

د شینکۍ شفتلي کورتۍ په ځان کې وه.

دا هغه وخت و. که چا په غاړه کې لاس راسره اچولی وای او راسره یې زما ډک زړه تش کړی وای، زیات ثواب به یې ګټلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شینکۍ د پوهنتون له طبیعت سره مخه ښه وکړه. له شا بوټو اوکاڼو د شینکۍ د ښکلي او زړه راښکونکي قد ننداره کوله، د شینکۍ د بېلتون چغې یې وهلې. شینکۍ د پوهنتون له انګړه خپل قدمونه اخېستل.

د پل ښتې یې زما سترګو ته اغزي جوړ شول، شینکۍ د پوهنتون له دروازې ووتله. د سترګو نظر مې د شینکۍ له قدمونو سره لوبېده. ماشوم احساس مې شینکۍ له لمنې رانیوله او هغه یې نه پرېښودله چې لاړه شي.

شینکۍ له یو څو انجونو سره په موټر کې سپره شوه او زما هیلې زما له روح سره مخه ښه وکړه.

د اووم آسمان له منارو راولوېدلم. د بېلتانه په پڅه چاړه حلال شوم. د وجود هډونه مې بې بنده مات شول، د الوتو په وزرو مې د سریښو باران راغی، په رنګین بازار مې لمر، په لمر پرېوته راوخوت، د ټولګي خواته مې منډه کړه، د شینکي د څوکۍ په خوا کې کېناستلم. له تشې څوکۍ سره مې خبرې پیل کړې، تشه څوکۍ مې له ګرېوانه راونیوله او په چغو- چغو مې د شینکۍ غوښتنه ترې کوله، خو تشې څوکۍ هېڅ ځواب نه راکاوه، د ژړا په څلي مې د بېلتون بېرغ رپاند و. ناهیلی له ټولګي ووتلم او د کلي پر لور راغلم.

ځمکې ځای نه کاوه. ازلي فطرت مې سر په زنګون و. د زړه مجاز مې په شینکۍ پسې بایللی و. داسې به وم؛ لکه کوم څه چې مې ورک کړي وي. او د هغه په لټه کې به وم. کله-کله به مې د سمیر هجران Yesterday سندره اورېدله. د زړه شنېلی به مې لړ- لړ پرې ښېرازه شو. په شپه او ورځ نه پوهېدلم. د ژمي ښې ښانې هم تر سترګو کېدلې.

یوه شپه ډېر ساړه و. سبا چې بهر ووتلم، دخدای طبیعت لکه د سولې کوتره، سپینې جامې اچولې وې.

تر څنګنو واوره ورېدلې وه. سپینو واورو سترګې برېښولې. د ونو په څانګو ډېرې ډېرې واورې زنګېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بامونو سر ته پورته شوم. بامونه مې د واورو له شتون څخه پاک کړل.
د کلي ماشومان کوڅو ته راوتلي وو. په وارو یې ویشتل کول. وروسته یې له واورې د انسان څېره جوړه کړه. خواوشا یې ترې اتڼ کاوه.
ځمکې سپین ځادر اغوستی و، سهار چې به لمر سترګه له غره راښکاره شوه، د واورو په سر به سپرغیو نڅاوې کولې.
هر څه ښه نه وو، د وجود غړي مې داسې کرخته وو، لکه چا چې غوڅ کړي وي. هېڅ شي ته مې لاس نه ورتلو. د نړۍ له هیلو مې لاس وینځلی و.
د شینکۍ د لاس هېڅ نښه هم نه وه راسره، چې لږ مې د زړه آرام پرې شوی وی. یوازې د هغې څېره مې د زړه په سترګو کې ساتلې وه.
ژمی هم تر نیمایي رسېدلی و، د یاد دوی کور خوا ته ورغلم. یاد د خپل زردالوګانو په باغ کې لرګي ماتول. په ساړه ژمي یې په تندي خولې ورماتې وې.
د لرګیو ماتول یې پرېښودل راته مخامخ کېناست، خبرې یې راسره پیل کړې.
راته یې وویل:
اوس خو ښه یې، له پخوانه څه ناڅه تازه یې، شینکۍ اوس هم یادوې که نه؟
یاد ته مې وویل: دا چې درسره په سپېرو شونډو خاندم، دا هسې له نړۍ سره تمثیل کوم. په زړه مې نور څه دي، هغه څه مې په زړه دي چې پدې کمزورو تورو کې یې نشم بیانولای.
زما د زړه خبرو لپاره داسې ژبه پکار ده چې زما د زړه پوره ترجماني وکړای شي.
یاد راته مسکی شو او و یې ویل: ستا خبرې هم سمې لکه د غني خان ګونګه شاعري، له ځانه دې سم فیلوسوف جوړ کړی.
داڅه کوي؟ ها!!!
رب دې درته خیر راپېښ کړي، تابه بیا په کومو زیارتونو ګرځوو.
یاد ته بیا په غوسه شوم، ورته مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو خو ستا له دا ډول خبرو خلاص نشوم. یوه ښه د ډاډ خبره خو والله که راته وکړې. همدا زړه مې غورځوې او بس!

د یاد له خولې په کړس خندا را پورته شوه. هغه خندا چې کله به یې په ټولګي کې وکړه، نو ټولو ټولګیوالو به ده ته مخ وراړوه.

یاد وویل: د ماشومانو خویونه مه کوه، په هسې خبره ځان خپه کوې، اوس پوه شوم چې په کومو خبرو خپه کیږې، زه به هم هغه خبرې درته کوم.

د کب میاشت هم را نوې شوې وه، تېز باد به هره شېبه ونې ښورولې او څانګو به ورته د باد په نریو تارونو سندرې ویلې. داسې ښکارېده چې ژمی په ختمېدو و. د ونو په څانګو کې هم ګلان په ځپړېدو وو. وړو رنګینو مچیو به د ګلانو په منځ کې له شبنمه عطرونه اخیستل او ځینو څانګو کې به غوټۍ یو له بله سره په مسکا وې.

د پټیو په پولو هم شنېلیو ځای - ځای سرونه راپورته کړي وو. هره خواته د پسرلي رنګینې خوشبویۍ حس کېدلې. نریو وږمو به د هر چا طبیعت ته خوښۍ وربښلې، ونو شنه څادرونه اغوستي وو.

نوي کال ته یوازې درې ورځې پاتې وې، د فېسبوک په مجازي نړۍ کې لګیاوم. نجیب د مسنجر له لارې راسره خبرې وکړې، نجیب خو به پېژنې!!!

هماغه ټولګیوال ملګری مې، چې کېله ګي ته د چکر لپاره راسره تللی وو، هغه ویل سبا ته ځان تیار کړه، چې د سمنګان ولایت تخت رستم(د رستم تخت) تاریخي سیمې ته لاړ شو او نور ښکلي ځایونه به هم وګورو، بله خبره دا چې یاد دې له یاده ونه وځي. هغه هم درسره خبر کړه، چې راسره لاړ شي، لږ به یې ساعت تېر شي.

په سبا څلور کسه چې ټول ټولګیوال وو، د پخلنځي ځیني توکي مو له خپلو کورونو له ځان سره واخېستل، اته بجې د نجیب په فیلډر موټر کې د سمنګان ولایت پرلور روان شو. پرلاره مو د بند دو په ښار ګوټي کې د مېلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره هرڅه واخېستل.

پر لاره مو بنډار ښه ګرم و، د نجیب ډرېوري عجیبه وه، فیلډر یې پرلاره سم نڅاوه.

یاد غږ پرې وکړ، نجیبه!که ډرېوري دې تر سمنګانو همداسې وي فکر نه کوم چې په روغو زړونو دې د روستم تخت وګورو. خیر نېمه ګړۍ دې وروسته ورسېږو خو چې روغ لاړ شو.

ما هم له دې خوا وسکونډه، چې سړیه! په زړونو مو بلا- بلا ارمانونه پراته دي هسې نه چې د تورو کندو خوراک مو کړې، پام کوه وروړکه!

ګړندي موټر مو د هوا عطرینه سینه د مزل لنډېدو په موخه څیروله. د رباتک کوتل، هوارې پوښتې او جیلګې مخ ته راتللې. په شنو دښتو کې د کوچیانو خېمې او کیږدۍ وهل شوې وې. واړه له ښکلاوو ډک وري، د خپلو میندو په شاوخواوو کې څرېدل.

شپونکی ورته په یوې لوی ګټ ناست و. نجیب ته مې غږ وکړ: چې موټر ورو کړه، چې د شپونکي خواته ورشو، موټر یې د شپونکي ترڅنګ ودراوه. موږ ترې ښکته شو.

شپونکي درنه جلکه اغوستې وه او ملا یې په سره دسمال کلکه د مست لېوني اټنچي په څېر تړلې وه، لوی لوی بریتونه او شمله وره لونګۍ یې په سر کړې وه، سلام مو پرې واچوه.

شپونکی له خپل ځایه راپاڅېده، لاس په لاس مو ستړي مشي سره وکړه.

شپونکي وویل: ځوانانو لکه چې د مزارشریف په لور د نوروزۍ لپاره ځئ!؟

ما ورته وویل: نه اکا! د سمنګانو تر تخت رستم پورې ځو. که بخت یاري وکړه نو تر مزارشریف پورې به هم لاړ شو.

شپونکي بله پوښتنه وکړه له کوم ځایه راغي یئ؟

نجیب ورته په ځواب کې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدې بغلان يو، دومره لرې مزل مو نه دی کړی.
شپونکي اکا ته مې وويل: چې شپېلۍ لرې که نه!؟
په خندا د رمې پر لور روان شو. د آس له خورجينې يې سور رنګې شپېلۍ راوويستله. په خپل ځای کېناسته، شپېلۍ يې په شونډو کېښوده، دا سندره يې په ګونګو لفظونو کې غږوله.
((بيا کډې بارېږي!
پرې واچول اوښانو کې
څه وکړمه خدايه؟
زړه مې بند دی په کوچيانو کې
بيا کډې بارېږي!))

....

فضا بل ډول وه، شنو درو او جيلګو د شپونکي دا سندره بېرته راغبرګوله.
ټول ماحول رنګين - رنګين و.
د مېږو غږونو د شپېلۍ سندرې ته زړه راښکونکی رنګ ورکاوه. ژېړ لمر. پسرلنی موسم. بنګينه شپېلۍ. هرڅه ښکلي وو. زړه مې د الوتو وزرې شنې کړې. خيال مې شينکۍ سترګو ته نېغه ودروله. د شپونکي په ترنګينه شپېلۍ کې مې د شينکۍ کړس خندا لټوله.
شپېلۍ غلې شوه، په غوږو کې مې لا د شپېلۍ خوږ غږ بوګنېده.
ياد را تر ځنګ شو، په غلي غږ يې راته وويل: له شپونکي شپېلۍ را واخله! لږ يې ته هم وغږوه.
د شپونکي شپېلۍ زياته ښکلې او ډولي جوړه شوې وه، شپېلۍ سوريو ته مې خپلې شپږ ګوتې ورجوړې کړې.
او دا سندر مې په ګونګو لفظونو کې وپېيله.
((سپينې سپوږمۍ وايه اشنا به چېرته وينه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



گونگۍ شوې ولې!؟
گونگۍ شوې ولې نه وایې حالونه!؟
زما لیلا د سپوږمۍ خورده
ځکه یې هرڅوک د ښایست صفت کوینه
گونگۍ شوې ولې!؟
گونگۍ شوې ولې نه وایې حالونه!؟))

....

د شپېلۍ په گرم ساز کې ډوب وم. نه پوهېدم چې د شپېلۍ راگ به په کومه روان و، خو زه د خیالونو په نړۍ کې د شینکۍ مخ ته ناست وم. د هغې په کافر ښایست کې مې ځان شیندلی و.

نجیب اوبه راوشیندلې، له خواږه خیاله یې راپورته کړم.

یاد هم راغبږ کړ، چې عاشق صیب! پورته شه، ځو! تا ته شپېلۍ خوند درکړ، لویه لاره مو پرمخ پرته ده.

شپونکي په یوه لرگي تکیه کړې وه، ویل یې ته خو هم سم د شپېلۍ استاد یې!

ما هم د سر په خوځولو ورته وخندل.

له شپونکي اکا سره مو مخه ښه وکړه.

د سمنگان پرلور روان شو، لاره ډېره لوړه او ژوره وه، د سمنگان په ښار کې مو له یوه ځوان څخه د تخت رستم پوښتنه وکړه، چې په کوم ځای کې به وي!؟

ځوان د غره پرلور گوته ونیوله، و یې ویل: د همدې لارې لمنه ونیسئ!

نېغ مو د تخت رستم ته بیایي!

همدا لاره مو خپله کړه، لاره هم سمه لکه د مار حلق لوړه او ژوره وه، ځای - ځای مېلې گرمې وې.

زما لپاره دا ماحول عجیبه و. دا مې لومړی ځل و، چې دې سیمې ته راځم، د تخت په خوا کې له موټره ښکته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخت حیرانونکی و، سم لکه په دېگي کې چې گرد کاڼی واچوې او د کاڼي په سر د روستم تخت و، دا نقشه په یوه غره کې پیاده شوې وه، له کوز اړخ څخه په غره کې د غار په څېر یوه لاره وه او د غار په دواړو خواو کې تاخچې جوړې شوې وې. په همدې تاخچو کې ټول ودرېدلو او د یوه نندارچي په لاس مو انځورونه واخېستل.

نور هم مخ ته لاړو، تخت ته د ختلو لاره نه وه، له گرد کاڼي تاو شو، یوه سخته لاره مو وموندله، هغه هم د گرد کاڼي مخ لږ ځای - ځای گرول شوی و او د ختلو پېچلې لار یې پرې جوړه کړې وه. خو په یوه قوی هوډ د تخت سر ته وختلو.

لاندې ټول ښار لکه د لاس ورغوی داسې روڼ ښکارېده، داسې مو و انگېرله چې لکه رښتیا هم د پاچاهۍ د تخت په سر ناست یو.

ما ته د شفیق مریدهغه سندره چې وایي: ((د بلال خوږه آذانه)) سندره راپه زړه شوه، چې د سندرې انځور یې همدلته ریکارډ کړی و. له تخت څخه تاو راتاو شوم، دلته نه هېرودونکې شینکۍ بیا رایاده شوه، زړه مې راته ویل، چې ای کاش!

نن خو دلته یو ځای راسره وای!!!

خو ملگرو مې نورو ډېرو مجازي خیالونو ته پرې نه ښودلم،

نجیب غږ وکړ، ځئ، چې ځو، نورو ځایونو ته مېله گرموو.

د تخت سر ته ختل څه نا څه اسانه و، خو بېرته ښکته کېدل گران و، په زیاته خوارۍ د تخت له سره لاندې ښکته شو.

په موټر کې سپاره شو، د یوې غونډۍ سر ته وختلو، همدا ځای مو خوبښ کړ. دولس بجې وې، له موټر څخه مو ټول توکي ښکته کړل.

یوه شل لېټره ډبه چې له اوبو ډکه وه، هغه مو راښکته کړه، هر یوه، یوه - یوه دنده په غاړه واخېستله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د سبزۍ په مېنځلو پیل وکړ.
یاد دیگی په گازي نېغري باندې کړ.
زړه ته مې ټک د شینکۍ هغه خبره ودربېدله، چې پاتو ترې پوښتلي وو.
شینکۍ! نن راته ستړې او ړنگه-بنگه ښکارې،چې څه خبره ده؟
شینکۍ ورته په خواږه راگین غږ ویلي وو، هو! رښتیا هم نن زیاته ستړې یم، پرون زموږ کور ته زیات مېلمانه راغلي وو لالا مې له بهر راغلی، د هغه ملگري دي چې ځي او راځي، بېگاه مې ټوله شپه په پخلنځي کې چایونه خوټولي، ځکه درته ړنگه-بنگه ښکارم، ډېره بې خوبه یم.
پاتو ورته په خندا شوه، ته،پخلنځی او چای خوټول لرې خبره ده.
زړه ته مې نه لوېږي، چې ته دې په دغو سپینو لاسونو او ځلېدونکو نوکانو چای وخوټوې.
شینکۍ به چې هرڅومره خپله خبره کلکه کړه نو پاتو به نه ورسره منله.
شینکۍ ورته وویل اې لېونۍ!
زه آن په تناره کې ډوډۍ پخوم، د چای خوټول خو اسانه ده، هغې ورته وویل: که یې نه منې نو سبا ته به په خپل لاس پاخه کړي پیرکي راوړم، بیا به وگورې چې زه درته دروغ وایم که رښتیا.
د همدې خیالونو په بازار کې مې د سبزیو پاکول ختم کړل او له یاد سره مې د پخلي په تیارولو کې مرسته وکړه.
دلته دیگی پخېده خو هلته زما په زړه، څوک څه پوهېده، چې زما په زړه څه – څه تېرېدل، خو خیر هر څه چې و، یوازې په ما تېرېدل!!!
د څلورو کسانو ملگرو لپاره مو د لسو کسانو خواړه تیار کړي و، هر څه ډېر وو او موږ هم ورته زیات وږي وو، خواړه مو دومره ډېر وخوړل چې په لاره سم تللی نشو. مېوې لا هماغسې پرځای پاتې وې.
په ټولگي کې د سمنگانو هم یو څو ملگري راسره وو، هغوی مو هېڅ خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کړل، چې سمنگانو ته درځو، د تخت پر سر چې مو انځورونه اخيستي وو. نجيب هماغه وخت انځورونه فېسبوک ته پورته کړي وو. د نجيب له مبايل څخه غږ پورته شو. خبرې يې ورسره پيل کړې، نجيب هم په مبايل کې خبرې کولې او هم يې ماته اشاره کوله.

خو زه يې په اشارو نه پوهېدم، نجيب راته په شونډو يو نوم اخېسته، ما ورته سر ښوراوو چې نه پوهېږم، دومره پوه شوم چې نجيب ورته وويل: له ملگرو سره به مشوره وکړم، بيا درسره خبرې کوم.

خبرې يې پای ته ورسېدلې، ما ورته وويل: داڅوک وو؟ چې خبرې دې له هغه سره کولې او په شونډو دې ماته يو څه ويل!!!

نجيب وويل حبيب سمنگانی و، هغه خبر شوی دی، چې موږ دلته راغلي يو، ويل يې تاسو به نن شپه خامخا له ماسره پاتې کېږئ!

حبيب زموږ په ټولگي کې د سمنگانو د ولايت و. ياد ورته وويل: دا له کوم ځايه خبر شوی!؟

نجيب په خندا شو، ويل يې: هغه زموږ انځورونه په فېسبوک کې ليدلي دي.

که ور نه شو، نو خپه به شي!

حبيب زموږ په تمه دی، د تللو يا نه تللو يوه پرېکړه وکړئ، چې خبرې ورسره وکړم.

ما هېڅ نه ويل، خيالونو مې شينکۍ له واورينو لاسونو نيولې وه، وږي خيال مې د هغې لاسونه په خپلو لاسونو کې موښل.

له تږي فطرته مې نرۍ کوکې اسمان ته ختلې.

د ملگرو په لور مې مخ ور واړوه.

ياد اوږد اسوېلی وويست، ويل يې: دا څه راپېښ شو! ورتگ مو اړين ده.

دې پرېکړې ته ورسېدو چې نن شپه به د حبيب مېلمانه کېږو.

نجيب د ټېټر له جيب څخه موبايل راوويست، له حبيب سره يې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړې، چې درځو، خو په دې شرط چې ځان به ډېر نه تاواني کوې!
له دې خبرو وروسته مو د نجیب په موټر کې د نورمحمد کوچي او قندي کوچۍ هغه سندره ور واچوله، چې وایي:
((وا میمونه حلالوینه، ربه! توبه په سره غرمه کې...)) دې سندرې ته مو د غږ والونه ورتاو کړل. د موټر دروازې مو هم خلاصې پرېښودلې، نجیب مخکې شو او موږ ورپسې، د آتڼ مېدان مو ښه ګرم کړ، دا سندره مو څو-څو ځلې د فیلډر موټر له لوډسپیکرونو په سندرې اواز وویستله.
د لمر وړانګو هم له موږ سره د نن ورځې مخه ښه کوله او د تخت له خواوشا سېمو یې ګیلمونه راټولول.
موږ هم د ښار پرلور روان شو، حبیب سره مې د موبایل پر لیکه خبرې وکړې، د ښار لوی واټ یې راته په ګوته کړ، چې دلته درځم او تاسو هم راشئ.
حبیب مو پیدا او هغه د کور پرلور لاړو. مېلمستون یې د کور ترڅنګ بادامو د بڼ په خواکې و. چای یې راوړ. له هغه وروسته یې په ګېلو پیل وکړ، چې ډېر ناځوانه یاست. سمنګانو ته له راتګ څخه به مو مخکې خبر کړی وم.
د پښو په سر ناست په پیالو کې یې چای وېشه.
موږ ورته بې ځوابه و.
یاد ورته وویل: د تخت له لیدلو وروسته مو ته خبرولې. خو حبیب نه منله.
ما ورته وویل: اوس نو غم مه کوه، دادی اوس خو راغلي یو.
کرۍ شپه مو زیاتې کیسې وکړې.
حبیب وویل: دادی لخیره پوهنتون هم په یو څو ورځو کې پیلېدونکی دی.
د حبیب دې خبرې مې زړه له خپل ځایه وښیوه. شینکۍ یاد مې په مرموز ډول په وجود کې څانګې وکړې. زړه مې دا درې میاشتې شینکۍ د نه لیدو له کبله لکه د منې پاڼه له څانګې بېله شوې وه. زړه مې داسې مړاوی شوی و، چې د پسرلي وږمو هم تازه نه کړای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبیب هم هرڅه تیار کړي و. دا چې موږ ماسپښین څانونه ډېر ماړه کړي و. لاس نیولي لاس نیولي لګیا و.
حبیب ته مې وویل: زموږ د تمې په خلاف دې دا هرڅه تیار کړي. کنه موږ ته دې بل څه ویلي و.
حبیب په نیمه ډکه پیاله لاس ایښی و. مسکی شو. ویې ویل: ښااااا نو خی سپوره ډوډی مې درته تیاره کړې وی؟ مېلمستون خنداګانوپه سر واخېست.
وروسته یې بادام راوړل. حبیب وویل: دا د خپل بڼ بادام دي. ښه یې له زړه وخورئ! سستي به په کې نه کوئ!
ښیښه یي قاب کې چې مې په بادامو سترګې ولګېدلې. خیال مې شینکۍ د مخ هغه قاب سترګو ته کېښود، چې د خدای ښکلي پېرزوینې په کې دوه شنه بادام ایښي و.
شپې تر ډېره وخته کېناستو. سبا ته چې مو لوی مزل په مخکې و. شپه مو جوړه کړه.
سبا په بڼ کې د مرغیو په سهارنیو سندرو راویښ شو. په بڼ کې ټولو لږه شېبه د سهار له وږمو سره قدمونه ووهل. بادامو ونو له ځانونو سپین بخملونه تاو کړي و. پرته د سهار چای له خوړلو مو له حبیب څخه اجازه واخېستله. د بغلان پر لور روان شو. سړک له دواړو خواو د بادامو بڼونه تر سترګو کېدل. په خبرو- خبرو کې رباتک له کوتل څخه را تېر شو.
شپې تر ناوخته کېناستل او دې مزل وروسته مې د وجود غړو په درد پیل وکړ. داسې وم؛ لکه ما چې دا موټر په اوږو راوړی وي. د کور دروازې په مخ کې له موټر څخه ښکته شوم. ناستو ملګرو ته مې شپې ماسره د پاتې کېدلو ست وکړ. خو هغوي راڅخه لاړل.
د کال وروستۍ ورځ وه. سبا ته نوی کال پیل کېده. شنو ونو درانه سیوري خواره کړي و. پستې هوا بې خوده زړونو ته سکون ورباښه. طبیعت هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کايناتو په رګونو کې مرموزې خوش بويي پاشلې.
څو ورځې همداسې لکه د يو ځيز په تمه راباندې تېرېدلې.
دا ځل له شينکۍ سره مخ کېدلو ته زيات په تلوسه کې وم. د فطرت ګلاب مې ډېر د شينکۍ د سترګو تږی و. د هوس چينه مې هم نوره په وچېدو ښکارېده.
پوهنتون د پيل دوه ورځې وتلې وې. مازيګر د کلي بر سر کې هلکانو د واليبال لوبه کوله. ياد ورته د لوبې نمبرې نيولې. ورغلم په خواکې ورته کېناستلم. د لوبې ختمېدو وروسته مې ورته وويل:
سبا ته ضرور پوهنتون ته ځو. نور مې په وجود کې شينکۍ پسې وينه وچه شوې. نه ګورې، چې له سترګو مې د انتظار تورې کړۍ تاوې شوي؟
ياد را سره ومنله، چې سبا ته به پوهنتون ته ځو. ټوله شپه په خيالونو کې ډوب وم. چې سباته به بيا شينکۍ د شنو سترګو مې په سر واړوم او د مودو تنده به مې پرې ماته کړم. په همدې خيالونو کې خوب ته ورغاړې وتی وم.
سهار له هيلو ډک قدمونه مې د پوهنتون پرلور واخېستل.
د شينکۍ پسرلني ديدن ته دومره په لټه کې وم، چې آن خپل وجود مې خپل روح پسې لکه سيورۍ ځان نشو رسولی.
د پوهنتون په انګړ کې ګلان يو ځل بيا ژېړ لمر ته په مسکۍ خوله نڅېدل. موسم پسرلنی و، تود لمر په وجود لکه د مرهم پټۍ داسې لګېده. د پوهنتون چاپېريال زما د ښه راغلاست لپاره شنه ورغوي، زما د قدمونو لاندې کېښودل.
هر يوه ټولګيوال مو د پسرلني له موسمه پسرلنی رنګ اخېستی و. په څېرو کې يې پسرلنۍ مسکاوې خورې وې.
ځان سره مې وويل: شينکۍ به د پسرلي په راتګ سره څومره ښکلې شوې وي. پسرلي به بلا ښکلاوې له شينکۍ سره وېشلې وي.
په شينکۍ مې لکه د باغي باز سترګې ولګېدلې. شينکۍ د کوه قاپ ښاپېرۍ پشان له رنګينو ګلانو سره لوبېده. وړی نظر مې د شينکۍ له ښايسته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښلیده. شینکۍ بلا ښکلې شوې وه. لکه ټول ژمی یې چې د ګلاب پاڼې خوړلې وي.

ټولګي د تګ په بهانه مې ځان ورنږدې کړ. ټول فکر او هوس مې د شینکۍ پر لور کش کاوه. شینکۍ هم د خپل نظر جال زما په وجود راخور کړ. څو قدمه یې لکه د تنزرې پشان زما خواته را واخیستل. په وجود مې بیا لړزیدلو پېریانو برید خښ کړ.

شینکۍ دوه شنه ګاټي زما له ګوګله وویستل. جذباتي پېریانو مې نږدې د شینکۍ نرۍ مسکا ته. له خولې کوکې وېستلې وې. ځان مې د ځان په لټون کې و. دوجود په رګو کې مې وینه د زړوبي غوندې په شرنګ روانه وه. عاطفي فطرت مې د ټولګي پر لور، سر په تالاق روان کړم. څوکۍ ته مې خپل تاواني وجود ور وغورځاوه.

د تېر کال په څېر دوه ښوونکي مو د ټولګي له نماینده سره ټولګي ته راغلل. یو ښوونکی مو د تختې ترڅنګ ودرېده او خبرې یې پیل کړې. چې ستاسو نماینده د بوختیا له کبله نور نه غواړي په خپله دنده کې پاتې شي. که څوک غواړي، چې نماینده وټاکل شي، د تختې ترڅنګ دې راشي.

یاد او نورو ملګرو راباندې غږ وکړ، چې واکه پورته شه!

زما زړه نه و چې پورته شم.

بیا راباندې غږونه وشول. زړه نا زړه د تختې ترڅنګ ودرېدلم. شینکۍ راته مخامخ ناسته وه. د ښایست هېنداړې یې زما خړې څېرې ته د بریښنا ټکانونه ورکول.

دوه نور ټولګیوال مو هم را پورته شول. نومونه مو یوه ښوونکي په تخته کې ولیکل. ویل تاسو هر یو دوه-دوه دقیقې خپلې خبرې وکړئ، چې ټولګیوال مو رایه درکړي.

خبرې مو ختمې او ټاکنې پیل شوې. ټولګیوالو مو د خپلې خوښې نوماند

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم په وړوکي کاغز کې لیکه. ټول کاغزونه د پخواني نماینده په لاس راغونډ کړای شول. زړه مې زیات لړزېده چې څه به وشي. هسې نه چې د شینکۍ په مخ کې ټاکنې وبایلم.

د یوهۍ

ښوونکي له لوري شمېرنه پیل شوه. لومړی یې د هغوی رایې وشمېرلې. وروسته چې زما وار راغی. د هغوی له رایو زما د رایو شمېر واوښته. غږ یې وکړ، چې واک ته دې مبارک وي!

بل ښوونکي هم غږ پرې وکړ، چې د واک رایې وشمېره. دی پوهـ شي، چې څومره کسان زما ترشا ولاړ دي. ما فکر نه کاوه، چې زه دې نماینده شم، خو دا هرڅه زما د آند خلاف تر سره شول. په ټولګي کې د لاسونو پړکار پیل شو. شینکۍ هم خپلې نازکې او پستې ګوتې په ډېرو پړکولو سرې کړې. ښوونکو د نمایندګۍ مبارکي راکړه، هغه هم سترګو کې زما په بریالیتوب وموسکېده. کېناستو او ښوونکي مو له ټولګي څخه بهر شول. هر یوه ټولګیوال یو ځل بیا مبارکۍ په پلمه رانږدې شول.

راغلم په خپل ځای کې کېناستم. شینکۍ په آهنګین غږ، په مسکاورو شونډو غوږ کې راته دا خبره وڅڅوله، چې: واکه! درته مبارک شه!

د شینکۍ دې لفظ ته مې ډېر په ګرانه دا توري سره یو ځای کړل، چې: نړۍ مننه کوم شینکۍ!

د ټولګي نماینده توب زما لپاره شینکۍ سترګو ته د نږدې کېدلو ښه فرصت و. خو بیا هم په زړه کې مې دومره توان نه لیده، چې شینکۍ ته دې د زړه خبره وکړم. تل به همدې خبرې ته ځورېدلم.

په تولګي کې مې مسوولیت ډېر شو. غوښتل مې چې د ټولګیوالو ستونزو ته لاسرسی پیدا او ورته د حل لارې ومومم.

د درس ویلو وروسته شینکۍ او پاتو په کیسو بوختې وې. شینکۍ راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل: واکه په دې ورځو کې زيات بوخت يې!؟
ورته مې وويل: هو ريښتيا هم ډېر بوخت يم. خوښ يم، چې د ټولګيوالو په خدمت کې بوخت اوسم.
رښتيا شينکۍ! يوه خبره مې رایاده شوه، هغه دا، چې راته ووايه ټاکنو کې دې رايه زما په کټه وکاروله که د بل چا!؟
شينکۍ د ګلابونو غوټۍ وخپړلې. مسکۍ شوه، په خياليګرو سترګو يې راته وکتل. چې نه نو خې ستا په ګټه مې ونه کاروله، نو د چا په ګټه مې وکاروله؟ که يې نه منې، له پاتو وپوښته!
زړه مې شينکۍ سره د خبرو په وخت کې د خوښۍ څپرغۍ شيندلې. او هوس مې په شينکۍ د ګلابونو باران پيل کړی و. له شينکۍ مې مننه وکړه او ورته مې وويل: تاسو ياست چې زه يم.
شينکۍ هم هره ورځ هڅه کوله، چې زياتې خبرې راسره وکړي. او هره ورځ به مې همدې ورځو ته په ژوند کې د خوښۍ ورځو نوم ورکاوه. ځان به مې په جامو کې نه ځايېده. شينکۍ او پاتو به کله- کله په يو ډول جامو کې راتللې. کله به يې چې تورې جامې اچولې وې. شينکۍ به مې بې روحه وجود ته روح ورپو کاوه. په وجود کې به مې احساس لکه ماشوم په خاپوړو راغی.
د دري ژبې ښوونکی مو د ټولګي له دروازې راتېر شو او موږ يې د درنښت په خاطر په خپلو څوکيو کې ودرېدلو. استاد د تختې په خواکې ودرېد او د درس په ويلو يې پيل وکړ. وروسته يې وويل: ستاسو له ډلې يو څو کسه نجونې او هلکان د څېړنې لپاره يو چېرته ليږم. هر څوک که ځي، نو همدا د څېړنې پايله به يې په سيمينار کې حساب کړم.
شينکۍ، ياد، ما او څو نورو ټولګيوالو مو لاسونه پورته کړل. ټول اته کسان دې څېړنې ته وټاکل شول.
راته يې وويل: داسې يو چاته د څېړنې لپاره مو ليږم، چې د همدې پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټ ایښودونکې ده؛ هغه هم آغلې ځلا!

له استاده مو د آغلې د کور پته واخیسته. وروسته له مشورې مو دا پرېکړه وکړه، چې سبا لس بجې به له همدې ځایه د آغلې ځلا کورته ورځو.

کور ته راغلم. ټوله شپه مې له خوښۍ له خپل سره د خوب کوترې الوزولې او خپل راتلونکي ژوند ته مې د شینکۍ په شتون کې ډاډمن ښکارېدلم. کرۍ شپه مې سترګې د کوټې تیرانو ته پاتې وې.د شینکۍ انځور د تیرانو له منځه خبرې راسره کولې. د شینکۍ شنو سترګو مې خیال ته په کوټه کې شنه مشالونه بل کړي و. په خیالي نړۍ مې د پسرلي کړس باران ورېده. روح مې له وجود سره همدې باران ته له یوې کیږدۍ لاندې ناست و.

شپه سبا شوه. دا مې لومړۍ ځل و، چې شینکۍ سره په یوه لاره له هیلو ډک قدمونه ږدم. ډله مو برابره کړه. له دوه موټر چلونکو سره مو خبرې وکړې چې د آغلې ځلا ترکوره مو ورسوي.

په لاره نه پوهېدلم؛ فکر مې کاوه، چې وزرې مې شنې کړي او الوزم. ځان مې د هوا له وربځو پورته الوته. شینکۍ سره مې ځان له هر وخته پوره ګاڼه. هغه مې د ځان پوره والي نښه بلله.

موټر ودرېد. هغه ځای ته ورسېدو، چې پته راکړل شوې وه. له یوه ځوان ځخه مې آغلې ځلا د کور پوښتنه وکړه.

ځوان مخامخ دروازې ته د ښي لاس ګوته ونیوه. یاد یې د کور دروازه د ګوتې په نوک وروټکوله؛ دروازه بېرته شوه. یوې ځوانې نجلۍ د دروازې له څنډې په یوې سترګې راوکتل.

په شینکۍ مې غږ وکړ، چې خبرې ورسره وکړي. شینکۍ ځان او موږ ور وپېژندلو. شینکۍ ورته وویل: غواړو له آغلې ځلا سره مرکه وکړو.

کور ته د ورتللو بلنه یې راکړه. په یوې ښکلې وړوکې کوټې کې کېناستو. شینکۍ مې بې روحه وجود ته مخامخ کېناستله. د مخ له واورین مېدان څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ململينه کټاره تاو کړې وه. شينکۍ مې يوه زړه ته دوه غبرگ شنه دامونه کېښودل. بايللي احساس مې د شينکۍ پاړوگرو سترگو له دم لاندې راغی.
آغلې څلا امسا په لاس له دروازې رابنکاره شوه. په درنښت يې ټول له ځايونو پورته شو.
ښوونکې څلا له وجوده زياته کمزورې او د پاخه عمر مېرمنه وه. په نوبت مو پوښتنې ترې پيل کړې. ځوابونه يې ډېر اوږده و. اته پوښتنو ډېر وخت ونيو.
شينکۍ سپينې نرۍ گوتې له قلم سره لوبولې. او کله به يې قلم پر سرې کتابچې کېښود. خيال يې د څلا ملغلرو خبرو ته وو.
د څلا ځوانې لور لومړی يخې اوبه او وروسته يې چای، وچه مېوه او کلچې راوړې. شينکۍ په مرمرين لاس کې ډکه پياله په يوه نيازبين انداز نيولې وه. د ځلېدونکو نوکانو څلا يې د پيالې په منځ کې نڅا کوله.
مرکه پای ته ورسېدله. له ښوونکې څلا څخه مې غوښتنه وکړه. که مو خوښه وي په ډله ييزه توگه له تاسره انځورونه اخلو. ياد ته مې کمره په لاس کې ورکړه. موږ د څلا ترڅنگ ودرېدلو او د يادښت لپاره مو انځورونه واخېستل.
وخت هم ډېر تېر شوی و. له آغلې څلا سره مو خدای پاماني وکړه.
ترپاخه سړک پلي لاړو. شينکۍ زموږ په منځ کې ړنگه- بنگه لکه د آسمان څکو غرونو هوسۍ روانه وه. ذرکين قدمونو ته يې زما اسير خيال د لاسونو زولنې ماتولې. تر يوه ځايه گډ راغلو. تر سبا د گروپ غړو يو له بله مخه ښه وکړه.
قسمت مو تر منځ د بېلتون سره کرښه راکش کړه. شينکۍ مې لکه د وجود خوږه برخه له وجوده بېله شوه. د خوښۍ په نظام کې مې د خپگان سرې کرښې وکښل شوې. مجبور منطق مې دا هرڅه په ځان منل.
ياد او زه د کلي پر لور وخوځېدلو. خيال کې مې ننۍ پېښې د څپاند سيند

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څېر څپې وهلې. د خیال فطرت مې په درز شوي کمره ولاړ و.
یاد راته کړه، چې هلکه نن خو دې د شینکۍ د مخ په هوایي ډګر کې ښې الوتنې وکړې. چورلکې دې بیخي د وربېځو له بامو هم پورته وې.
ورته مې وویل: یاره نن مې په ژوند کې د خوښیو لومړۍ ورځ وه. د خوښۍ اختر مې له بلا قربانیو ډک و.
څومره چې د شینکۍ وصل خوږ دی، هغومره یې بېلتون هم تریخ ده. ته زما له زړه څه خبر یې؟ زړه مې د لاس په ورغوي کې نه ده، چې درته ښکاره یې کړم.
کلي ته ورسېدلو. ګرمۍ هم د ځمکې سر لکه د اوبو ځګ پر سر اخیستی و. د ونو څانګو هم درانده خوبولي سیوري جوړ کړي وو. د کتابونو بیک راباندې درونډ شوی و.
یاد هم راځخه لاره بېله کړه او د خپل کور پرلور لاړ.
ځوړند وزرونه ترکوره لاړم. شپې هم زما د ځورولو په خاطر لاسونه رابله وهل. خوب کې یې د ورځې پېښې بیا زما مخ ته کېښودې.
سبا له خولو ډک له خپل ځایه پاڅېدلم. پوهنتون ته د نورو ورځو په پرتله وختي لاړم. شینکۍ د قدمونو لپاره مې لاره په وږي نظر چارو کړه. تر ټولګي راغلم. یوه څوکۍ مې د ټولګي مخې ته کېښوده او څار مې کاوه.
کله به د فېسبوک نړۍ ته ورغلم. د فېسبوک نړۍ زما لپاره زما د بوختیا یوه ښه ملګرې وه. خیال به مې د شینکۍ په ښایست کې پخاوه او د فېسبوک نړۍ ته به مې د تورو په ژبه وړاندې کاوه.
پاتو لکه له کرښې وتلې زانه د ټولګي پر لور را روانه وه. زما زړه ته یو ډول کرکه ودرېدله. خدای مکړه لکه په شینکۍ چې څه شوي وي او پاتو دې د یوازېتوب په تار حلاله وي.
له وېرې مې د شینکۍ پوښتنه ترې نشوه کولی. د دې لپاره چې د پاتو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه کې کوم شک پیدا نشي. هرڅه مې په یوه لوی حوصلې له منځه یوړل. پاتو مې له سلام اچولو وروسته په خواکې تېره شوه.
د موبایل مسنجر ته مې پیغام راغی. یاد لیکلي و، چې واکه چېرته یې؟
بېرته مې ورته ولیکل: د ټولګي مخې ته ناست یم.
یاد د تورو په ژبه راته وویل: پوهنتون دروازې ته رانږدې شه!
زړه ته مې ډول- ډول وسوسې لوېدلې. ځان سره مې ویل که په شینکۍ څه شوي وي؟ نور نو ماته هم په دې پیکه نړۍ ژوند نه دی پکار. په دې فکر کې ډوب وم، چې د شینکۍ نه راتلل او د یاد دا خبره عجیبه وه.
په چټکو قدمونو لویې دروازې ته نږدې شوم. یاد له دروازې راتېر شو. ورته مې وویل:
څنګه چل ده؟
کومه خبره خو به نه وي؟
ولې دې تردې ځایه راوغوښتلم؟
یاد راته په خندا شو. ویل نا کومه خبره نشته. د دې لپاره مې راوغوښتلې، چې سزا درکړم. نن ولې له ما پټ راغلی یې؟
یاد ته مې کړه، کارونه دې ډېر عجیبه دي، زما خو دې زړه له پردې ووېست. زیات ټولګیوال راغلي او د شینکۍ کوم څرک نشته. فکر مې وکړ. هسې نه چې په شینکۍ څه شوي وي اوتا د دې لپاره تر دروازې را وغوښتلم.
یاد په منځ بېلو ویښتانو کې ګوتې کش کړې او په کړس خندا یې وویل: ته دومره شینکۍ پسې مړ- مړ یې!؟
که څه پرې کیږي نو کیږي به!
یاد ته مې د دې خبرې ځواب نه و ورکړی، چې په شینکۍ مې د وارخطا څېرې سترګې ولګېدلې. له خپل مخه یې د بېلتون پرده پورته کړه او زما له وجود سره یې د وصال تار ونښلاو. خپل وجود کې مې د پوره والې نښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرګندې شوې.

شینکۍ رانږدې شوه. د سلام له اچولو وروسته یې وویل: واکه! دلته څه کوئ؟ ولې په ټولګي کې ښوونکی نشته؟

د شینکۍ دې لنډو پوښتنو ته مې زړه غوښتل، چې اوږده ځوابونه ورکړي، خو په کمزورې ژبه کې مې دومره وسه نه وه، چې شینکۍ ته مې یو څه پرې ویلي وی. بس دومره مې ورته وویل: هغوی غونډه لري.

شینکۍ د ټولګي پر لور روانه شوه. زما زړه د هغې قدمونو پسې لکه لار ورکی مسافر روان شو.

د ښوونکو له غونډې وروسته د ټولو ټولګیو نمایندګان د پوهنځي ریاست ته بلل شوي و. زه هم لاړم، یوه د غونډې له پرېکړې خبر کړو. هغه ویل، چې د دې اونۍ په پای کې مو ازموینې پیلېږي. ټولګیوال مو خبر کړئ، چې خپل درسونه ښه په غور سره ووایي.

ټولګي ته راغلم. د تختې ترڅنګ ودرېدلم. شینکۍ او پاتو په لومړیو څوکیو کې ناستې وې. شینکۍ سره د سترګو جنګول له کمره ځان غورځول و. تر اوسه مې په وجود کې دومره زور نه و پیدا، چې شینکۍ ته دې په شخو سترګو وګورم.

ټولګیوال مې له هغې خبرې خبر کړل. چې ازموینې ته چمتو والی ونیسي.

دا پوښتنه مې ځان سره له ډېره وخته بې ځوابه پاتې و. چې کله د ټولګي مخې ته پورته شم. شینکۍ ولې دوه سترګې زما په بې روحه وجود کې خښې کړې وي؟

شینکۍ او پاتو په زړه کې یوې او بلې ته ډېرې نږدې وې. یوې به بلې ته د ناپامۍ په وخت کې په مخ څپېړه ورکړه.

د شینکۍ جلال اوجمال ته به خود د ټینګې نه وم. تل به زما نظر د دې سپینو نریو ګوتو ته و او ځلېدونکو نوکانو به د شینکۍ ګوتو ته دوه برابره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا وربښلې و.
د ګرمۍ هم جم او جوش و. د دریشي کورتۍ به مې په اوږه واچوله. او د نېکټايي کړۍ به مې هم سسته کړه.
د ازمويني په سهار ټولګي کې مې څوکۍ منظمې کړې. د ليکوالۍ استاد مو په لاس کې د پاڼو بنډل نيولی و. ټول ټولګيوال ورته په خپلو ځايو ودرېدلو.
ښوونکي راباندې غږ وکړ، چې واکه! راشه د پاڼو په وېش کې راسره مرسته وکړه. د پاڼو نيم بنډل مې ترې بېل کړ. او په وېش مې پيل وکړ. وېشنه مې کوله. کله چې د شينکۍ څوکۍ ته ورسېدلم. شينکۍ راته وکتل او دا خبره يې وکړه. واکه نن درسره دا نېکټايي بلا ښکلې ښکاري.
زړه مې دړوب ولوېده. پاڼې مې د دې لپاره چې رانه ونه لوېږي. په ګوتو مې کلکې ونيولې. په ژبه ګونګ شوم. شينکۍ ته مې هېڅ ځواب ورنه کړ. عاطفي څپره مې بوګنوونکو احساساتو کلابنده کړه.
خيال مې بې زړه رباب ته تخنېدونکې ګوتې ورواچولې. منطق مې د خپلو احساساتو تابع وګرځاو. د مودو انتظار مې په چلښت راغی. ځان سره مې وويل: واکه د کوم ملنګ دوعا درپسې لاړې؟ لکه چې خولۍ دې به غوړو کې ولوېږي.
د امید په نغري مې د خوښۍ دېګی باندې شو. د پاڼو په وېش نه وم پوهـ شوی. يو وخت مې نږدې هغو کسانو ته بيا پاڼې وېشلې وې، چې ښوونکي ورته له ما د مخه وېشل کړی و. ځان مې د خيال له کيږدۍ بهر کړ.
يوه پاڼه مې ځان لپاره ترې بېله کړه. نورې مې بېرته ښوونکي ته ورکړې. خپلې څوکۍ ته په بې واکه وجود راغلم. څه چې مې له کتاب څخه د ازمويني لپاره زده کړي و. د شينکۍ له دې خبرې سره مې د ذهن له چينې ووتل. هرڅه مې له خوښۍ ګډ-وډ شو. نه پوهېدم چې په پاڼه کې څه ليکم؟ خو قلم مې په لړزانو ګوتو د پاڼې پرمخ ښوراو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شینکۍ له ټولو د مخه پاڼه حل او له ټولګي په وتو شوه. بهر په دهلېز کې ودرېدله. نور ټولګیوال هم په وتو شول. پاڼه مې ښوونکي ته وسپارله او بهر ووتلم.

یاد هم راغی او له لاسه مې ونیو، لږ مې له نورو ټولکیوالو لرې کړ. د شینکۍ هغه خبره مې ورته وکړه.

یاد راته وویل هی پساتیه! لکه چې شینکۍ دې هم د خپلې مینې په دام کې ونښلوله. په همدې خبرو لګیا وو، چې شینکۍ له لرې راباندې غږ وکړ: واکه! خبرې چې دې ختمې شوې، راشه لږ کار درسره لرم.

شینکۍ هغه د نیکټایي خبره او اوس له ما سره د هغې کار لرل. سل خیالونه مې سره تېر او بېر کېدل.

یاد راته کړه چې سرېه کومه خبره خو شته، چې اوس به شینکۍ بیا څه درته وایي؟

ته باید مخکې له دې چې هغې سره خبرې وکړې لږ خواږه ووېشه، چې شینکۍ خوږې خبرې درته وکړي.

شینکۍ له پاتو سره د دېواله سیوري ته ولاړه وه. نه پوهېدم، چې شینکۍ به څه راته وایي. پښه نیولی د شینکۍ پر لور روان شوم. ترېدلی احساس مې شینکۍ د خبرو ته منتظیر وو.

شینکۍ د تاثیر ناکو خبرو ښکار شوم. هغې راته وویل: واکه! د لیکوالۍ له ښوونکي سره د سیمینار په اړه خبرې وکړه، چې څه درته وایي او څه وکړو؟ پدې وخت کې مې ځان له ځانه لرې وو. شینکۍ د ښایست وړی خیال مې، ګبنۍ له ګریوانه نیولی وو. شینکۍ د مخ دوه شنو چورلکو زما په بې زړه وجود او وارخطا منطق غبرګ بمونه وغورځول.

په نیم ګونګ لفظ مې د شینکۍ دې خبرو ته د سر په خوځولو سره؛ لکه اسیر غلام لبیک وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښوونکي پر لور لاړم. هغه راته لېست وسپاره، چې ټول ټولګیوال په کې لس-لس کسان ګروپ بندي شوي و.

استاد راته کړه، چې هر ګروپ دې د لیکوالانو او شاعرانو انځورونه لوی-لوی چاپ او ورسره دې ګروپ د غړو نومونه ولیکل شي.

راتلونکی ساعت مو خالي و. ټولګیوال مو تللي و. ښار ته لاړم. یوه چاپوال سره مې پیرمحمد کاروان د انځور چاپولو خبره وکړه او د نومونو لېست مې هم ور وسپاره. تر مازیګره یې د چاپ کولو ژمنه را سره وکړه. مازیګر د لوی چاپ شوی انځور له اخېستلو وروسته کور ته لاړم.

سبا د جمعې ورځ وه. انځور مې په رنګینو تختو کې چوکاټ کړ.

مازیګر مې په مېلمستون کې د وروستۍ ازموینې کتاب لوسته. دروازه وټکېدله. کتاب مې بند کړ. ګورم چې یاد و؛ کتاب یې په لاس کې نیولی او یوه ګوته یې کتاب د پاڼو په منځ کې د نښې لپاره دننه کړې وه.

مېلمستون ته مې د راتلو بلنه ورکړه. د کاروان په لوی انځور چې یې سترګې ولګېدلې اوووووو یې کړل. ویل دا څومره ښکلی. دا دې څه لپاره چاپ کړی؟

هغه لېست مې ورته ښکاره کړ، چې استاد راته سپارلی و او په کیسه مې هم پوه کړ، خو ګیله یې وکړه، چې په دې ګروپ کې به دې زما نوم هم لیکلی و.

ورته مې وویل: یارو! دا زما کار ندی کنه! که زما په زړه وای. ستا او د شینکۍ نوم مې په دې ګروپ کې له ځانه مخکې لیکه، خو څه وکړم؟ څومره چې شینکۍ ته ځان نږدې کوم، سپېره تندی مې یاري نه راسره کوي.

ټوله شپه مې د سبا رڼا لپاره انتظارونه ووېستل.

سبا چې پوهنتون ته لاړم انځور مې استاد ته وسپاره. ټولګي ته د ازموینې لپاره لاړم. وروسته له ازموینې مې هر ګروپ ته خپله دنده ور وسپارله. دا چې د یوه ګروپ مشري د شینکۍ پر غاړه وه. د ګروپ لېست مې ورته وسپاره. ورته مې وویل: شینکۍ اوس چې د ګروپ مشره یې، نو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلی ډیزاین او چاپ کړه.

شینکۍ سره په خبرو لګیا وم، چې یاد راته له لرې غږ وکړ: واکه خبرې دې ژر ختمې کړه، چې ښار ته ځو!

زما چېرته زړه کېده، چې د شینکۍ له ښایست او د هغې له خوږو خبرو مې ځان راټول کړی وای.

له شینکۍ بېلېدل مې له ځان او سوزېدلي زړه سره ستر خیانت ګاڼه، خو شینکۍ تر سبا راسره مخه ښه وکړه. د ښایست رنګین ښار یې زما له وړې فطرت څخه واړو او واړه- واړه قدمونه یې د لویې دروازې پرلور واخېستل.

زه داسې شوم؛ لکه د ګلانو له خواږه خوبه چې خیالي پسرلی لاړ شي.

یاد راغی، په اوږه یې ټپ راکړ او د لوی دروازې پرلور یې کش کړم.

ښار ته لاړو، په هماغه چاپ ځای کې مې یاد ته هم لوی انځور ډیزاین او چاپ کړ.

په وروستي ساعت کې مو د لیکوالۍ مضمون و. استاد د سیمینارونو پوښتنه وکړه، چې چا تیار کړي دي؟

یاد، شینکۍ او څو نورو لاسونه پورته کړل. د نورو چاپ شوي سیمینارونه یې ومنل، خو د شینکۍ په سیمینار کې نیمګړتیا وه. ښوونکي نیوکه پرې وکړه او د دویم ځل چاپ امر یې ورته وکړ.

ښوونکي راته وویل چې واکه سیمینارونه درسره راواخله او ما سره راځه! تر پښتو څانګې مې سیمینارونه ورسره ورسول. بېرته د ټولګي خواته راغلم.

شینکۍ د ښایست څانګې مړاوې وې. سپوږمۍ د خور په مجاز خپګان څادر خور کړی و. راغله راته مخامخ ودرېدله. بې روحه وجود مې د هغې مخې ته، د قاتل مجرم په څېر زولنو کې ترلی ولاړ و. شینکۍ خپل چاپ شوی سیمینار زما مخ ته ونیو، چې دا درواخله!

زما په ترلې خوله کې داسې ژبه نه وه، چې شینکۍ ته مې انکار پرې کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای. چاپ انځور چې سره تاو کړی يې و، ترې وامې خېست.
شينکۍ په يوه نيازبين او د يوې بدماشې کرکټرې په څېر راته وويل: دا انځور به داځل ته راته چاپ کوې، نه به په کې نه وايې!
لاجوردې سترګې يې راباندې رابرګې کړې. زما په بې وسه فطرتې خيال يې د ناز په ژبه، د غضب قدمونه کېښودل. له ټولګي په وتو شوه. په تګ کې يې مخ راواړو؛ دا خبره يې وکړه، چې سباته يې چاپ شوی غواړم، کنه نو بيا به ګيله نه کوې!
هک-پک ودرېدلم. خيال مې شينکۍ پسې د يوه وفاداره ساتونکي په څېر روان شو.
خپل ګريوان ته مې وکتل. چې دا څه روان دي؟ او د دې حالت د تعبير پوښتنه مې ترې وکړه.
ياد هم راسره د دې پېښې کوربه و. هغه راته کړه، چې واکه ياره! د دې شينکۍ په زړه کې هم څه شته، ننني انداز خو يې سم د کترينا په څېر و اوته خوار سلمان خان ورته له پښو او لاسو تړلی ښکارېدلې.
د شينکۍ دا ډول اندازونو بلا جرئت راکاوه او زما لخوا هم د يو څه ويلو توان يې راباښه.
يو وخت د فېسبوک نړۍ ته ورغلم. يوه بلنه رالېږل شوې وه. له هماغې بلنې مسنجر ته هم پيغام راستول شوی و. ليکلي يې و. شينکۍ يم، بلنه مې قبوله کړه!
هېڅ مې زړه ته نه لوېده، چې دا دې شينکۍ وي. بلنه مې ومنله.
شينکۍ د منني تر څنګ وويل: خپله شينکۍ يم زړه او نا زړه نشې.
د شينکۍ دا ليکلې خبرې مې هوس په سترګو پورې موښلې. نه پوهېدم چې شينکۍ به زما په اړه څه ډول فکرونه کوي، خو د پخوا په پرتله مې د هيلو مزي غښتلي شوي و.
ډاډه وم، چې شينکۍ مې هره ليکنه لوستلې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فېسبوک پرمخ به مې د لیک په بڼه خپل خیال او درد انځوراوه او د لیکنې تر څنګ به مې یو د شنو سترګو انځور هم پورته کاوه. څه ناڅه به مې زړه د آرامتیا جام پرسر واړاو.

سبا د جمعې ورځ وه. نن مو دوه ساعته درس وویل. ټولکي کې مو یوه ادبي غونډه ونیوه. شینکۍ یې ویاندي په غاړه واخېسته. هر یو یې ویاندځي ته باله.

زما د نوم له اخېستلو سره یې وویل، چې له یوه غزل سره دې ویانځي ته راشي. ویاندځي ته راغلم. شینکۍ مې ښي اړخ ته ناسته وه.داسې ډاډه وم؛ لکه د وجود په ښي اړخ کې چې مې بل زړه راټوکېدلی وي.

یو غزل چې د شینکۍ په ښایست مې لیکلی و. غونډه کې ناستو ټولګیوالو ته مې واورو. ټولګیوالو هم د لاسونو په پړکا سره تر خپلې څوکۍ بدرګه کړم.

غونډه پای ته ورسېدله. شینکۍ او پاتو بیا یوه او بله له لاسو ونیوله. زما د ارمان په څلي یې د بېلتون غوبلې پیل کړې. شینکۍ رانه لکه له نوک څخه چې ورۍ بېله شي، بېله شوه. د خیال په اوږو مې الهام لکه یوه څړیکه راتېر شو او دغه بیت یې راته د شینکۍ په بېلتون کې ډالۍ کړ:

چې بیا مې سترګې ستا په سترګو لګي
بس تر هغـــــو دې په پاک رب سپارمه

بیت مې له یوه انځور سره، چې د شنو سترګو لرونکی و، پورته کړ. مازیګر لمر پرېوتی و. مبایل مې جېب کې په ترنګېدا شو. نمبر مې ونه پېژنده. ځواب په تنې مې ګوتې ته زور وکړ. خبرې مې ورسره پیل کړې. ویل شینکۍ یم. واکه څنګه یې؟

حېران شوم. پوښتنه راسره پیدا شوه، چې شینکۍ او په دې وخت ماته زنګ وهل؟

شینکۍ را ته کړه، چې واکه دا څه روان دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ولې داسې کوې؟
څه چې دې په زړه کې دي همدا اوس يې راته ووايه!
هک حيران شوم. ورته مې وويل: شينکۍ ته په هوش يې؟
هغې ويل هو په هوش يم!
ورته مې کړه، چې په هوش يې نو څه دې اوريدلي؟ په دې گونگو خبرو دې نه پوهيږم. سپينه خبره راته وکړه چې څه خبره ده؟
شينکۍ راته ويل: زما په خوله نه راځي، چې هغه خبره درته وکړم!
له شينکۍ سره مې خبرې اوږدې شوې. ورته مې وويل: دا نو څرنگه خبره ده، چې زما له خولې دې وتلي وي او ستا په خوله دې نه راځي؟
هغه خبره يې بيا راته وکړه، چې واکه په زړه کې چې دې هرڅه وي راته يې ووايه!
هيڅ مې جرئت ونه شو کړی، چې د زړه تړلې غوټۍ مې ورته څيړلې وای.
ځان سره مې فکر وکړ، چې اوس د دې خبرې وخت نه دی.
خو شينکۍ هم له خپل زړه څخه نه غږيدله، يو څه يې ليدلي و.
شينکۍ ته د دې لپاره چې د ځان سپيناوی وکړم. لږ ورته په غوسه شوم، چې شينکۍ سپينه خبره راته وکړه، په دې اوتو-بوتو دې نه پوهيږم.
شينکۍ هم خپلې خبرې د ښښنې تر غوښتلو را ورسولې.
شينکي په غريو نيولي غږ راته وويل: واکه د فيسبوک ليکنې دې څه وايي؟
او ولې د شنو سترگو انځورونه پورته کوې!؟
د شينکۍ دا پوښتنه داسې وه؛ لکه يو مجرم چې لاس نيولی په يوه جرم گير شي. نږدې و، چې خپلې خبرې هم راڅخه گډې-وډې شي.
زما لپاره دا يوه ښه موقع وه، چې شينکۍ مې د زړه له هغه رازه خبره کړې وای، چې هروخت هغې پسې په ماتو ښيښو قدمونه ږدي.
شينکۍ ته مې وويل: سبا له نږدې خبرې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خيال کې مې لويو- لويو انديښنو ټالونه وهل، چې دا څه وشو؟
شينکۍ ته هم شکونه پيدا شوي، خو هغې خپل شک په يقين بدلاو.
کرۍ شپه مې د سوچونو په ټال ځنګل، چې سبا به شينکۍ ته څه ووايم؟
کله به مې پرېکړه وکړه، چې خبره ورغبرګه کړم، خو بيا به پښېمانه شوم. د انديښنو پېټي مې په دواړو اوږو ايښې و. د شينکۍ هغه خبرې مې ټوله شپه په غوږ کې لکه د رباب تارونه کړنګېدلې.
سهار وختي د همدې انديښنې له امله پاځېدلم. ياد ته مې ځان ورورساوه. دا خبره مې ورته له سره پيل کړه.
ياد بيا له کړس خندا سره په شا مات شو. ويل اوس دې نو ښه ګلان وکرل. اوس به د شينکۍ مناظرې ته ښه ټينګ شې!
ياد مې نور هم ښويدلی زړه را وښيوه.
ځان سره مې وويل: شينکۍ ته نن هرڅه سرچپه وايم.
پوهنتون ته د يوه مجرم په څېر، چې محکمې ته روان وي، روان وم. زړه ته مې خپله ډاډګېرنه ورکوله چې هرڅه به سم شي.
ټولګي ته له يوه اسويلي وېستلو وروسته دننه شوم. ښوونکی له ما د مخه ټولګي ته راغلی و. په څوکۍ کې کېناستلم. او د ستړي وجود ستړيا مې په لويو- لويو اسويلو ووېستله. وخت ډېر ژر راباندې تېر شو.
ښوونکی له ټولګي ووت. ډېرې ټولګيوال مو هم د ساعت تېرۍ لپاره بهر ووتل. له خپل ځايه پاځېدلم؛ غوښتل مې چې زه هم بهر لاړ شم، پاتو له شا خوا نه غږ راباندې وکړ، چې واکه لږ صبر!
د پښو غړو مې يو دم کار پرېښود. زړه د تنابونو غوټې مې په سستېدو شوې. پاتو راته کړه، چې واکه که وخت لرې، نو شينکۍ غواړي تا سره له نږدې خبرې وکړي.
د شينکۍ پر لور ور روان شوم. شينکۍ يوه څوکۍ د خپلې څوکۍ مخ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېښودله. ورنږدې شوم. هغې راته وویل، چې واکه دلته کېنه.
له وجوده مې پخوا روح وتلی و. په خوله کې مې څک لاړې نه وې.
شینکۍ غبرګې شنې سترګې زما په سترګو کې خښې کړې. سترګو یې راته سترګو ته خبرې پیل کړې. زړه مې د شینکۍ په مینه نورې هم منګولې ټینګې کړې. کتل یې راته بل ډول و؛ لکه شینکۍ چې په زور زما زړه، زما له سینې وېسته. د خبرو انداز یې داسې و، چې په لوی لاس مې د خپلو زلفو په دام کې راګیر کړي.
شینکۍ راته وویل: واکه رېښتیا به راته وایې، چې اصلي خبره څه ده؟ که کومه خبره دې په زړه کې لرې، نو اوس یې راته ووایه!
شینکۍ ته مې یوازې دومره وویل، چې ګوره!
هېڅ کومه خبره نه ده. زړه دې ډاډه کړه. که ستا په زړه کې کومه خبره وي، نو ته یې راته ووایه.
زما په زړه کې خو څه نشته او که ته مې له سره نیسې نو هغه بېله خبره ده.
شینکۍ راته دومره نږدې ناسته وه، چې آن د سپینې خولې نفس یې زما بې روحه وجود؛ لکه درې رنګی بیرغ رپاو.
د سپوږمۍ خور په خندا شوه. نا- نا کومه خبره نشته. واکه ډېره ښښنه غواړم، دا چې زیات مې وځورولې، په دې هیله، چې رانه خپه ونه اوسې.
په پیکه څېره کې مې د وینو رنګونه را مالوم شول. د مخ له ژېړ پوستکي مې نري باد خولې وچولې. هرڅه بل ډول شو. ملامت بې ګناه وښودل شو او سلامت په بخښنو سر شو.
واه! هرڅه معجزه وه!؟
شینکۍ له خپلې څوکۍ پورته شوه. له ګلابي وجود څخه یې عطرینه خوشبوي پورته شوه. څو قدمه وړاندې لاړه. له یوه اړخه یې راته وکتل. دومره مسکۍ شوه، چې مرمرین غاښونه یې هېڅ ښکاره نشو. له داسې یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښې سره مخ شوم، چې په خوب او خیال کې مې نه وه لیدلې. دا هغه څه و، چې شینکۍ د خپل یقین جوګ زما په اړین فطرت پخاوه.
خوا او شا مې وکتل. له ځان څخه مې پوښتنه وکړه. هسې نه چې دا د کوم فلم صحنه اوسي، خو نا!
نه کمرې وې اونه ډایرېکټران. یوازې پاتو د ټولګي په یوې څنډه کې ناسته وه. د شینکۍ په دا ډول نخرو مې خیالات د پخې خښتې په څېر پخېدل.
دومره توان مې په ځان کې نه و، چې له څوکۍ دې پاڅېدلی وای. داسې وم؛ لکه چا چې په څوکۍ کې تړی یم. بخت مې هغه موقع له لاسه ورکړه، چې شینکۍ ته مې د زړه خبره ښکاره کړې وای. شینکۍ رانه له پخو دیوالونو پنا شوه. زما په سترۍ روح پسې یې ډبرینې تنبې واړولې.
ټوله ورځ به مې سوچونه وهل. چې څه به کیږي؟ او څه به نه کیږي؟
د جمعې سهار و، بهر له کوره ووتلم. یاد راباندې غږ وکړ، چې ما په آسمان غوښتلې او خدای په ځمکه راکړې.
ورته مې وویل: بیا دې څه اورېدلي، چې په آسمان دې غوښتلم، وایه کنه!
یاد ویل: ځو مرکزي بغلان ته، لږ به د امام قطیبه زیارت سیل وکړو او هم به مو ساعت تېر شي.
پرته له کوم دلیله مې ورسره ومنله. د زیارت پر لور روان شو. په لاره ناست موټرکې مې خپل زړه له ګوګله وتلی و. زړه مې شینکۍ د ښایست په کوڅو کې ملغلرې خرڅولې. نیم مړ فطرت مې له دې ښاره د ژوند سا اخېستله.
ساعت وروسته مرکزي بغلان کې له موټر څخه ښکته شو. زیارت هم د ښار لودیځه برخه کې پروت و. د زیارت شنې منارې له ورایه نارې وهلې؛ ځکه د یوې لوړې غونډۍ پر سر جوړ و. له هرې خوا زیارت ته د پوړیو لارې ورختلې وې. منځنیو پوړیو کې روان و. موبایل مې په ښي جېب کې په ترنګېدا شو. څو ورځې وړاندې مې شینکۍ د مبایل شمېره له ځان سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل نامه ثبت کړې وه.
موبایل مې له جېبه را ووېست. د شمېرې ترځنګ واک هم ورسره لیکل شوی و. خپل نوم راته د موبایل په ښیښه عجیبه ښکاره شو. لکه ځان چې مې ځان ته موبایل کړی وي.
شینکۍ سره مې خبرې پیل کړې. هغه خوښه ښکارېدله. داسې وه؛ لکه یو پټ راز چې راته ښکاره کوي. پوښتنه یې وکړه، چې واکه په کومه خاوره یې؟
د امام قطیبه زیارت مې ورته وښود، چې دلته یم.
شینکۍ بیا وویل چې زیارت کې څه کوې؟
له خولې مې دا کرښه ورته ووتله.
(دا ښار د لېونو دی او دا ښار د میننانو)
شینکۍ ته د خبرو ښه موقع په لاس ورغله. ډول- ډول پوښتنې یې کولې. داسې ښارېدل. لکه زما په مینه چې خبره شوې وي. دا یې غوښتل چې یو څه د خپلې مینې ورته ووایم.
راته یې کړه چې مین شوی یې؟
بې له دې چې په پوښتنې یې غور وکړم. د کېدای شي لفظ مې ورته ورمخته کړ. شینکۍ ته مې کړه، چې واک پخوا داسې نه و. داسې د ارمان په تناره نه و سوزېدلی.
او نه داسې تور اېشلی و. دا دوه کاله شو، چې واک د خوښیو بازار ړنګ ده. د ښار په جم او جوش یې سېلابونه راسر شوي.
شینکۍ په کړس خندا وکړه. ویل واکه! څومره فلسفه دې راته وغړوله. د خبرو خیالات دې بیخي بل څه غړوي؛ لکه چې زیارت کې دې د ځان لپاره ډېرې دوعاوې وکړې.
واکه هغه به نو څوک وي، چې ستا د خوښیو بازار یې ړنګ کړی؟ ماته خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې وښایه، بل داچې مینه دومره درد لري؟
د مینې درد مې ورته په الفاظو کې نشو تشریح کولی. ټول وجود مې په لړزان راغلی وو. هواسو مې شینکۍ ته مینه- مینه نارې وهلې. منطق مې ورته په خوله لاس کېښوده.
یاد راته له لرې لاس ښوراو.
هر څومره چې به مې هڅه وکړه خپلې خبرې رالنډې کړم. خو د شینکۍ خوږو خبرو به مې د وصل تنابونه نور هم کش کړل. شینکۍ ته مې کړه، چې سبا ته له نږدې خبرې کوو. اوس لږ بوختیا راته پیدا شوه.
مخه ښه مې ورسره وکړه. یاد د زیارت لوړې ته ځان رسولی و.
په ستړي زړه مې د یاد څنګ ته ځان ورساوه.
یاد پوښتنه وکړه، دا څوک و، چې دومره ورته په لاسونو غږېدلې!؟
له یوه سوړ اسوېلي وروسته مې ورته وویل، چې شینکۍ د سپوږمۍ خور وه.
یاده یاره! نور مې په زړه کې دا هرڅه نشم ځایولی. بس ده، چې دا دوه کاله مې د سر په کاسه کې اوبه وڅښلې. چې هرڅنګه کیږي. که دار ته پرې خېژم. سبا شینکۍ ته هر څه برملا کوم. زړه د خبرو تړلې غوټې مې ورته څیړم. نور نو دومره وسه نده راپاتې.
یاد هم زړه نا زړه و. ویل: واکه! دا خو ډېر ګران کار دی. که ته شینکۍ ته هر څه په ښکاره ووایې، هسې نه چې هغه کوم غلط غبرګون وښیي.
یاد ته مې کړه. شینکۍ مې سبا که د دې خبرې پر سر، سر هم غوڅوي ضرور به ورته د مینې اظهار کوم.
یاد راته په سخته ژبه دا خبره وکړه.
واکه عجیبه سړی یې. که شینکۍ ستا د مینې له اظهاره انکار وکړي. پوهېږې؟ دوه کاله نور هم پاتي دي. هغه هم په یوه ټولګي کې. ایا ستا درد

(c) ketabton.com: The Digital Library



به نور هم ډېر نشي. دې خبرې ته دې هم پام وي گوره!
یاد به زما له زړه څه خبر و، چې زما په زړه څه تېرېږي؟ خبره مې لنډه ورغبرگه کړه. یاده اظهار به ورته ضرور کوم. یا به مې دا پاتې دوه کاله نور ښه په خوښۍ کې تېر شي او یا به سم د زیارتونو تېکه دار شم.
یاد همداسې نه پرېښودلم. هڅه یې کوله، چې له دې خبرې مې تېر کړي. ویل یې که شینکۍ ستا خبره رد کړي. نه به دې دا پاخه الهامونه وي. نه به دې دا تمه.
له خوړلو یې تمه ښه ده او هم به له خپل ژونده بېزار شې.
د یاد هره خبره مې بې ځوابه نه پرېښودله. هغه ته مې داسې خبره وکړه، چې نورې خبرې یې په خوله کې وچې شوې. ورته مې کړه چې یاده!
ماته له هرڅه شینکۍ اړینه ده. شنه واښه دې وخورم او په تیرو کې دې ژوند وکړم، خو چې شینکۍ دې راسره وي. زما ټول ژوند دې شینکۍ سره له یوې ثانې وصله ځار شه. شینکۍ چې نه وي. پوهنتون به څه کوم؟ له زهرو ډک ژوند به څه کوم؟
په شینکۍ باور لرم چې داسې بد غبرگون به نه ښایي؛ ځکه پخوانیو خبرو یې څه نا څه د مینې رنگ راوړ.
له زیارت څخه د ښار په لور راغلو. د شینکۍ مینې دې حد ته راوستی وم، چې عقل، پوهه، منطق، استدلال او هر څه مې له لاسه ورکړي و.
نړۍ راباندې دومره وړه شوې وه، چې قدم به مې اخېسته وېرېدلم، هسې نه چې له جهانه ولوېږم.
ماسپښین و؛ یوه هوټل ته وردننه شو. د یاد به چپلي کباب ډېر خوښېده. ډېری وخت چې به هغه راسره و. د یاد خوښه به زما خوښه وه.
نن مې نه په ځمکه ځای و او نه مې وزرې درلودلې، چې الوتنه مې پرې کړې وای. بیخي گډ- وډ وم. خیالات مې په توره خونه کې راگیر و. د زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رباب مې تارونه شکولي و.

یاد ته مې وویل: نور ځو ټوله ځمکه مې له پښو لاندې سره سکر وټه ګرځېدلې ده، هله نو پاځه!

د خپل کور پرلور روان شو. سترګې مې ځپرغۍ- ځپرغۍ کېدلې. کورته په راتګ نه وم پوه شوی. ټوله شپه له منطق، پوهې او استدلال سره مې په جنګ وم. په ګرېوان کې مې یوه روغه تنۍ نه وه پاتې.

سهار د یوه بایللي جوارګر په څېر له خوبه پاڅېدلم. په دې خیال کې وم، چې څنګه به شینکۍ سره مخ شم او څنګه به دا خبره ورته له خولې وباسم؟ خیال کې مې دوه ډکې ویالې مخ ته راتللې؛ یوه د زهرو، بله د شاتو، د شینکۍ په هوکړې به مې د شاتو ویاله په برخه کیږي او په انکار به یې د زهرو.

زړه مې د دنیا له خوږو موړ و. پرته سهار د چای له خوړلو د پوهنتون پرلور روان شوم. زړه مې زیاتې ډوبکې وهلې. ځکه له هغې پېښې سره مخ کېدلم، چې د شینکۍ له انکار سره به مې ژوند ته لوی ګواښ وي. او ژوند به راته د زهرو غرپ شي.

ټولګي ته ور دننه شوم. یوازې د ګوتو په شمېر ټولګیوال ناست و. ښوونکی لا ټولګي ته نه و راغلی. د زړه بازار مې ړنګ و. د هواسو رنګ مې پیکه شوی و. ټولګیوالو مې د خپګان پوښتنه کوله. ټولو ته مې ډاډ ورکاوه، چې کومه خبره نشته. زړونه مو ټول ونیسئ.

تش ګوګل، تښتېدلې څېره په څوکۍ کې ناست وم. سترګې مې وره ته پاتې وې. زړه مې شنکۍ ته د انتظار په خولو کې ډوب و. د خیال په توره شپه د پنځلسمې شپې سپوږمۍ راوختله. غبرګو شنو څراغونو یې زما بې روحه وجود ته د خوښۍ ځپرغۍ شیندلې. شینکۍ راغله په یوه څوکۍ کې کېناستله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر مې د خیال په لاره د شینکۍ ښایست کې ډوب و. د څېړنې ښوونکی راغی. دوه ساعته مو درس وویل. د سیمینار په اړه هم خبرې وکړې او له ټولګي ووت. یو- یو ټولګیوال مو هم پسې ووتل.

زما لپاره یوه ښه موقع په لاس راغله چې شینکۍ سره له نږدې خبرې وکړم. شینکۍ او پاتو په خوراک بوختې وې. له خپلې څوکۍ پاڅېدلم. د شینکۍ پرلور مې مړاوي قدمونه واخېستل. شینکۍ ته مې کړه. که وخت لرې، غواړم یو څو خبرې درسره شریکوم.

شینکۍ راته کړه، چې سمه ده، وخت خو لرم. ستا لپاره به دا خوراک هم بس کړم.

پاتو ته مې وویل، چې ښښنه غواړم. موږ یوازې پرېږده او ته د ټولګي بل سر ته لاړه شه.

شینکۍ او پاتو زما د دې خبرې په اورېدلو سره حیرانې شوې او یوې بلې ته کتل او بلا خبرې یې په زړونو کې تېرېدلې، چې واک به څه خبرې په زړه کې لري؟

څوکۍ مې شینکۍ ته نږدې کړه. زړه مې سینه کې دومره په دربا و، چې آن ټول وجود مې ورسره لړزېده.

شینکۍ راته په خندا شوه. ویل واکه زما په خیال چې هغه پرونۍ خبره راته کوې. زما خو له یاده وتلې وه.

یو سوړ اسویلی مې له خولې ووت.

د ټولګي څلورو دېوالونو راته په شرنګېدلي رباب، نرۍ ګوتې خنبې کړې وې او خواوشا څوکیو راته له خوښیو چک- چکې وهلې. ستونې کې مې وچو نفسونو منډې وهلې. شینکۍ ته مې کړه، چې نن درته هغه خبره کوم، چې کېدای شي ستا لپاره ډېره ښه یا ډېره بده وي. زه او ته هغه حد ته رسېدلي یو، چې ځینې خبرې راته ډېرې عادي دي. هغه نالوستي او د پیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال څښتنان نه یو. ښي او چپ لاس ښه پېژندلی شو. خبره درته په یوه شرط کوم، چې خپه کیږې به نه او نه به مې ژوند د اور لمبو ته نیسې!

شینکۍ خپلې سترګې زما په سترګو کې حیرانوونکې خښې کړې وې او په سوزېدلي نفس یې راته وویل: نه- نه، نه خپه کیږم. راته یې ووایه، دا څنګه خبره ده، چې ته ورته په تلوسه کې یې!؟

د شینکۍ شوخو او شنو سترګو ته مې وکتل. د زړه خبره مې ورته له خولې داسې ووتله. چې شینکۍ!

مینه درسره لرم

څه- څه!؟

خیاله! په هوش یې؟

شینکۍ ته مې پورته وکتل، د شینکۍ په څېره کې د عاجزۍ او بې وسې نښې ښکاره شوې، بیا یې راته وویل:

خیاله! دا ستا له خولې څه اورم!؟

د شینکۍ زېړې څېرې ته ځیر شوم، په دې ورځوکې لکه نارنج زېړه شوې وه او له سترګو یې هم تورې حلقې تاوې شوې وې، له خولې مې لکه د اور، سوړ اسوېلی ووېست. شینکۍ ته مې وویل:

هو! په هوش یم، خو ستا ګلابي څېرې او نازک خیاله ښایست بې هوښه کړی یم. ژوند مې یوازې د ستا د شتون پورې نښلولای دی.

شینکۍ! د خدای لپاره داسې کومه خبره راته ونه کړې، چې د ژوند په ارمان کې مې د ناهیلۍ اغزی مات شي.

د شینکۍ په سترګو کې اوښکې راډنډ شوې، د ټکري څنډه یې په نریو ګوتو کې راو نیوله او د شینکو سترګو لب رېز شوې اوښکې یې پرې وچې کړې، را ته یې وویل:

واکه! زه اوس د دې خبرو بدل کې څه درته ووایم؟ له خپلې څوکۍ پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه، غږ مې پرې وکړ، د خدای لپاره شینکۍ! مه ځه!
یو څه ووایه!
شینکۍ یو څو قدمه له خپلې څوکۍ لرې شوه؛ غوښتل یې پرته له څه ویلو له ټولګي ووځي، له خپلې څوکۍ ور پسې پورته شوم، د شینکۍ سپین مړوند مې د خپلو پنجو په زور ټینګ ونیوو، د هغې د تلو مخه مې ونیوله.
ورته مې کړه:
شینکۍ د انساني شرافت له مخې عذر درته کوم. لمن درته نیسم، څه خبره ده؟ اصلي خبره راته ولې نه کوې؟
هله نو چې زړه مې وچاود!
د شینکۍ په څېره کې مې د درد او خپګان نښې ولیدې.
راته یې ویل:
واکه!
نه غواړم په دې اړه څه درته ووایم؛ مه مې ځوروه، خیر دی!
په دې ورځو کې هېڅ ښه نه یم، په زړه کې مې دومره زور نشته، چې ډېرې خبرې وکړای شم او نه مې په وجود کې هغه پخوانی توان پاتې، چې ودرېږم.
په پاتو یې غږ وکړ:
راځه چې ځو، ښخي ناوخته شوه. شینکۍ او پاتو له ټولګي ووتلې.
د خپلو ارمانونو څادر مې را غونډ کړ. د هیلو غنم مې د ژرندې د دوو پَلونو تر منځ پاتې شو. زه هم له ټولګي ورپسې ووتلم.
ټکنده غرمه وه، لمر د اسمان په تالاق کې سلامي و، ژبه مې په خوله کې وچېدله. لیدل مې چې شینکۍ د پوهنتون له دېوالونو پناه شوه. زړه ته مې د بېلتون کرکه ولوېده، له ځان سره مې وویل:
دا څه وشو!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما دومره لویه تمه او د شینکۍ څه نه ویل!؟

دا په کومه لوبه ګډ شوم؟ کور ته د هیلو له هغو پیتیو سره ولاړم، کوم چې مې له ځان سره راوړی و، درې ورځې مې پوهنتون ته زړه و نه شو، چې لاړ شم.

په څلورمه ورځ یاد راپسې کور ته راغلی، چې څنګه یې ولیدم، راته یې وویل: هلکه! چېرې یې؟

ولې نه ښکارې؟

او دا پوهنتون ته ولې نه راځې؟

موبایل شمېرې دې هم بندې کړي، دا هر څه ولې!؟

ما ورته وویل:

نور مې له پوهنتون او ژونده زړه تور شوی دی، د شینکۍ خبره مې ورياده کړه، چې هېڅ ښه نه یم!

یاد په تعجب کې شو او و یې ویل:

ولې – ولې؟ په څه، لېونی شوی خو به نه یې!؟

ما ورته کړه:

که لېونی مې نه بولې، نو کم هم ترې نه یم. دا زما لاس تورې پېشو ستهلی دی.

زه څه کوم او هغه څه!!!؟

یاد وویل: دا کومه بله یوه ده، که هماغه؟

ما ورته کړه: بله چېرې کېدای شي، هماغه شینکۍ ده کنه!

څلور ورځې مخکې یې پوهنتون کې زما د ټولو هیلو بر خلاف داسې ځوابونه راکړل، چې ما یې هېڅ تمه نه لرله، زه پرې د خپل زړه وینې خورم، خو هغه...!

مه یې یادوه نو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه يې را خوږلی دی...!

زما خبرې پای ته نه وې رسېدلې، چې ياد زما د خبرو منځ کې راولېد:

وا هلکه! ته خبر يې!؟

زه يو دم چوپ شوم؛ نه- نه،د څه نه!؟

ياد وويل: شينکۍ هم ستا د نه راتګ سره سم له ټولګي سره مخه ښه کړې،

زه نه پوهېږم، چې څه خبره به وي؟

ښوونکي ستاسې پوښتنې کوي، خو هېچا ته مالومات نه و، دا دی زه در پسې کور ته راغلم.

راځه! چې همدا نن پوهنتون ته لاړ شو، هر څه به له نږدې وڅارو، خدای مهربانه دی، ممکن هېڅ خبره نه وي.

زه هم ناچاره ورسره د پوهنتون په لوري روان شوم.

پوهنتون ته په ټاکلي مهال ورسېدو. د ټولګي ماحول بدل- بدل ښکارېده، هر څه راته سم نه ښکارېدل؛ لکه په روغ جسد کې چې زړه نه وي.

زما هم زړګی نه و، په دې نېمګړی ښکارېدم، چې شينکۍ نه ښکارېدله، هرې خوا ته مې په ځير- ځير وکتل، خو د هغې ښکلې څېره مې تر سترګو نه شوه.

مجبور شوم، چې له پاتو وپوښتم، پاتو ته مې ويل: هغه لېونۍ چېرې ده؟ ولې نه ښکاري؟

څه خو به پرې شوي نه وي!؟

هغې زما د وېرېدلې څېرې په ليدو خبره را څخه پټه کړه. ويل يې: نه پوهېږم، خبره نه يم، خو زه يې له وېرېدلي حالته د ټکې په لوېدو پوهـ شوم او په زړه مې د وېرې ساړه ننوتل.

ډېر ټينګار مې وکړ، خو پاتو همدايوه خبره کوله.

بل چا هم راته څه و نه ويل او د شينکۍ د نه راتلو په سبب هېڅ ونه پوهېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړ شوم، چې دا اخرنۍ وسیله(موبایل) وکاروم. هغه مې له جېبه راوویست او د موبایل په زور مې د زړه غبر تر شینکۍ ورساوه.

زړه مې خوشاله شو، چې هغه خوږ غږ مې بیا تر غوږو شو، خو په غږ کې یې هغه شوخي نه وه موجوده.

له سلام-کلام وروسته مې ترې وپوښتل:

ولې پوهنتون ته نه راځې؟ لومړی یې راته هېڅ نه ویل، خو چې ټینګار مې وکړ، سوړ اسویلی یې وویست او د نرۍ تبې یې راته وویل:

لږه ناروغه یم، سبا یا بله ورځ به درشم؛ ته غم مه کوه، ډېره ناروغه نه یم، ته تشویش مه کوه!

داسې خبرې یې وکړې، چې ګواکې دغو خبرو په کولو هم خوږېدلې وي.

د هغې د غږ په اورېدو مې زړه دا چېرته منله، چې د دې درد دې دومره عادي اوسي.

شپه سبا شوه، په ترهېدلي خیال تر پوهنتون راغلم، لېونۍ بیا نه وه راغلې.

ټولګی بې له دې بې تورو کتاب او بې ستورو اسمان ته ورته و، بیا مې له پاتو وپوښتل:

هغه راته په سپېرې خېرې ګونګه – ګونګه شوه.

ورته جدي شوم، ما ویل چې څه دي!؟

راته سم صفاووایه!

هغه پوهېدله، چې زموږ دواړو لېونیانو زړونه یو له بله سره تړلي دي اود یو بل غم نشو زغملای، خو مجبوره مې کړه، په بنده-بنده لهجه یې راته وویل:

هغ، هغه – هغه!!!

ما ورته کړه: هغه څه ؟؟؟

په هغې څه شوي دي، چې زه نه یم خبر!؟

پاتو له ما مخ واړوو او زما له څېرې پنا یې د خپلو سترګو ګرمې اوښکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکې کړې:
هغه د ناروغۍ له امله په روغتون کې بستر ده، داسې ناروغي، چې...!
نور يې څه نشو ويلای، ژړا پرې غلبه وکړه او زما له څنګه په تېزۍ روانه شوه.
زه ډېر ورخطا شوم، د روغتون پته مې ترې واخېسته او هم هغه روغتون ته ورغلم، چې لېونۍ په کې د درد شپې تېرولې.
د هغې د بستر خونه مې پيدا کړه، خو چا دننه د ورتلو اجازه نه راکوله، له بندو دروازو مې د شينکۍ د بستر په لور د زړه له ښيښو ور وکتل، چې ړنګه-بنګه د ناروغۍ په بستر پرته وه.
ټول خپلوان يې د روغتون له دېوالونو تاوېدل- راتاوېدل.
هغوی زما په ليدو ډېره څکه حېران نه شول، چې پوهېدل چې شينکۍ زما ټولګيواله ده.
نوکريوال ډاکټر مې ځانته رامخاطب کړ، چې زما په شينکۍ ټولګيوالې څه شوي؟ د هغې مسته ځواني نن څنګه داسې ارامه ده؟
او د بستر په کټ خوره- وره په خپلو دردونو کې پرته ده؟
هغه د نرمو خبرو وروسته راته وويل:
لږ ځان ارامه کړه!
مه خپه کېږه، دا د پاک الله له لوري ورکړل شوي برخې دي، شينکۍ ټولګيواله دې په لاعلاجه کېنسر ناروغۍ آخته ده، چې درملنه يې ناشونې برېښي، هغه به ممکن څو نورې ورځې هم په دې نړۍ کې زموږ مېلمنه اوسي.
ما کله منله!؟
چغې مې کړې: دا هيڅ امکان نه لري، چې شينکۍ دې ما په دومره دردونو کې يواځې پرېږدي، هغه داسې نه شي کولی!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر زما په اوږو لاسونه کېښودل، چې زویه!
مسلمان بنده باید د رب هرې پرېکړې ته خپله مرۍ ونیسي.
ما ژر ورغبرگه کړه: وا زما سپېڅلیه ربه!!!
دا په ما څه روان دي؟ دغه وژونکي پرېکړې ته به زه څنگه خپله مرۍ نیسم!؟
ډېرې چغې مې وکړې، خو هېڅا هم ځواب را نه کړ، په منډه بیا تر هغې ښیښې لاړم، چې شینکۍ په کې مړژواندې سا اخېسته. را ویې کتل، له سترگو سره یې اوښکو خدای پاماني کوله.
د دې ناروغۍ درملنه د نړۍ په یوه کونج کې هم نه کېدله، خو ما یې په هڅه لاس پورې کړ. له شینکۍ مې په سترگو کې خدای پاماني واخېسته، یاد مې یې خدمت او زما احوال راکولو ته پرېښود او زه د کابل پر لور د شینکۍ لاعلاجه مرض علاج پسې راغلم.
ډېر ملگري مې راخبر شول، له ننگرهاره مې د ذهین په نامه ملگری چې له دې خبرې مې خبر کړی وو، راوغوښت.
هغه زما په درد پوهـ وو او په سبا وختي یې ځان کابل ته راورسوو.
څو ورځې سره یوځای د دې درد په دوا پسې گرځېدو، چې د سې شنبې ورځ سهار شاوخوا لس بجې یاد زنگ راووهه. زه او ذهین د سیند په غاړه د اسمایي پله ترڅنگ نېغ ودرېدو.
ذهین پوښتنه وکړه: د چا زنگ دی؟
ورته مې کړه:
یا، یاد دی!
هغه چې شینکۍ مې پرې سپارلې ده.
ذهین هم د موبایل په ښیښه سترگې ښخې کړې او ژر یې د دې لپاره، چې کوم بد خبر نه وي، زما له لاسو موبایل واخېست. ما ټینگار وکړ، خو ذهین

(c) ketabton.com: The Digital Library



برلاسی شو او په ټېلېفون کې یې د سلام- کلام وروسته رنګ یو دم والوت.
ژر یې د یاد راغلی زنګ پرې کړ.
ماته مخاطب شو، زما د پښو تنابونه هم سست شول، برګ شوم، ذهین مې
له لاسو ونیو، په جدي لهجه مې ترې وپوښتل:
څه یې ویل!؟
څه خبره وه!؟
ذهین لکه چې زما په خوا کې نه وي، هېڅ یې زما پوښتنو ته پام نه وو او د
سیند د غاړې په کټارو یې تکیه وکړه. سترګې یې ډنډ شوې، د ذهین حالت
په لیدو مې په زړه وخوړه، خو د عقل په پرېکړې مې زړه هېڅ باور نه کاوه.
ذهین مې رانېغ کړ او د څو- څو ځل تکرار او غوښتنو وروسته یې غېبره راکړه
او راته یې داسې وویل:
زما واکه اشنا!!!
هغه روح چې خدای د شینکۍ جسد ته امانت سپارلی و، نن یې ترې
واخېست!!! بې واکه مې د زړه په وران کابل د درد بمونو چاودنه وکړه. د
دنیا له امېده مې د هیلو ټغر په ټولېدو وو.
ذهین له لاسو ونیولم او راته یې کړه:
واکه!
د شینکۍ روح دې ښاد وي!!!
مینه یواځې د یوځایتوب نوم نه دی، د مینې دوهم نوم قرباني ده، چې نن تا
او شینکۍ دواړو د دغې قربانۍ مالګه وڅښکله!
دا به د درب پرېکړه وه او ته باید د پاک رب پرېکړو ته لبېک ووایې.
سترګې مې ډنډ شوې، د موره یو ذهین راته څو- څو دانې ښکاره کېده.
پیاده قدم وهل مې نور له توانه بهر وو، ذهین له لاسو ونیولم او سینیمای
پامیر له چوکه یې تر مرکزي چوکه موټر دربست کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر ته پورته شو، ما غوښتل، چې خپل ځان او خپلې اوښکې په خپل کابو کې وساتم، خو په موټر کې لګېدلې دې سندرې چې:

ولې نفرت کوې له ما؟

څه شوله هاغه مینه ستا؟

هغه وعدې دې څه شوې؟

ها قسمونه څه شو؟

مینه هغه سره کوه- چې کوي مینه تاسره

....

له واکمنو سترګو مې بې واکه اوښکې روانې شوې او په مخ مې یې لارې جوړې کړې.

ذهین مې هم چې په درد پوهېدلی وو، په خاموشۍ یې حالت څاره، زما هم له سترګو ډېرې اوښکې ورغړېدې، ډېره هڅه مې وکړه، چې اوښکې مې له ګرېوانه وساتم، خو بیا یې هم زه له ګرېوانه ونیولم.

ذهین ډېره ډاډګېرنه راکړه او تر اخره یې زما په اوږه لاس اچولی نصیحتونه راته کول.

له ذهینه د خدای پامانۍ اخېستو سره سم مخ په بغلان روان شوم.

د شپې لس بجې وې، چې د پلخمري په ښار کې له موټره ښکته شوم. له رسېدو سره سم یاد راته اډه کې ولاړ وو، په غېږ ورکولو مو دواړو یو ځل بیا ښې پرېمانه اوښکې توی کړې.

او په ټینګار مې ورڅخه سپارلې شنکۍ غوښتله.

ورته مې وویل شینکۍ دې څه کړه، شینکۍ دې د خاورو خوراک کړه؟

هغه کور ته بوتلم او د سبا کېدو سره سم یې هدیره کې هغې مقبرې ته ودرولم، چې نوې جوړه شوې وه، یو دم یې راته کړه:

دا دی ستا د شینکۍ مقبره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شینکۍ مې د تورو خارو ډېرۍ په لیدو، په سترګو مې توره شپه راغله، بې هوښه د شینکۍ په قبر ولوېدم. وخت وروسته چې په ځان پوهېدم، یاد راته واکه! واکه! چغې وهلې.

په لړ ښه کېدو مې د شینکۍ د قبر خاورې په مخ موښلې، او د قبر یوه لپه خاوره مې د زړه په سر نیولې وه،خو هېڅ مې د شینکۍ د وجود عطرینه خوشبویي پکې نه محسوس کوله.

دلته راته یاد د پاتو یادونه وکړه، چې ویل یې: خدای ښښلې شینکۍ ورته یو خبره کړې، ویلې پرته له واکه یې بل چاته نه کوم. په بیړه مې ځان تر پاتو ورسوو.

د پاتو هم سترګې له ډېرې ژړا تکې- سرې شوې وې. زما په لیدو یې یوځل بیا له سترګو اوښکې؛ لکه فوارې رد شوې. له سلام وروسته مې ترې د شینکۍ د امانت په اړه وپوښتل.

په ژړغوني حالت او غریو نیولي غږ یې وویل:

واکه!

شینکۍ د مرګ په وخت کې د شهادت له کلیمې وړاندې راته ستا نوم واخېست او په ډکو سترګو یې وویل، چې واک ته ووایه:

هغه وخت ما نشو کولای، چې دغه کلیمه درته ووایم، خو اوس د ژوند په اخري ساه کې یې درته وایم، چې:

زما خوږ او زړه ته رانږدې واکه!

ډېره مینه مې درسره لرله او لرم یې

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**